


# مات څانګونه

Ketabton.com

ليک: خليل جبران

ژباړه: ډاکټر خالق زيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات ځانګوته

لیک: خلیل جبران
ژباړه: ډاکتر خالق زیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب نوم:** مات ځانګونه

**لیک:** خلیل جبران

**ژباړه:** ډاکټر خالق زیار

**چاپ:** وړومبے

**کال:** ۲۰۰۸

**شمېر:** ۱۰۰۰

**بیه:** ۱۰۰روپۍ

**کمپیوټر چارې:** عبدالله وردک

**ټائټل:** امجد شهزاد

**خوروونکي:** پښتو ادبي جرګه ملاکنډ

د چاپ ځائې: اباسین پریس پیښور

---

درکونه: یونیورستي بک ایجنسي

سلیم جالوان- افتخار مارکیټ درګئ بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټون

د ارواښاد
پروفیسر ډاکټر صاحب شاه صابر په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرس


خپلې خبرې ........................ الف
ړومبې تکي ........................ ۱
خاموشه خپګان ........................ ۵
د تقدير لاس ........................ ۹
د زيارت سلام ........................ ۱۴
د رڼا مناره ........................ ۱۹
توپان ........................ ۲۲
د اور ډنډ ........................ ۳۵
د مرګ د تخت په وړاندې ........................ ۵۴
د عيسى او عشتار ترمينځ ........................ ۶۹
قرباني ........................ ۷۵
نجات ورکوونکے ........................ ۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

PUKHTO.NET
پښتو ډیجیټل کتابتون

زۀ په ایډورډز کالج پېښور کښې د دولسم جماعت طالب علم وم چې د خپل سنئیر ملګري سلیم خان، څوک چې دا مهال په حبیب بنک کښې افسر دے، په وېنا مې دا کتاب "The Broken wings" ولوستهٔ ډېر زیات مې خوښ شهٔ او د دې نه وروسته مې تر خپله وسه د خلیل جبران نور کتابونه هم مطالعه کړۀ.

خلیل جبران داسې لیکوال دے چې د ټولنیز ژوند مشاهده ئې بې حده ژوره ده. د انساني فطرت مطالعې ئې نظر دومره تېز کړے دے چې د زړۀ د تنه واردات ترې هم پټ نهٔ دي پاتې شوي. د ټولنیزې ارتقا په لوړو ژورو رسېدلے دے نو ځکه د ټولنیزو قدرونو او رشتو منظر او پس منظر د لوستونکي په وړاندې په داسې عام فهم انداز کښې ږدي چې سړے ارومرو متاثره کوي. همدارنګه د ژبې د پکارولو هنر ئې هم سارے نهٔ لري او هر لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې د قدر او ستائنې وړ دے. خو دا د نظر لاندې کتاب ئې زمونږ د پښتني تولنې دپاره زيات ارزښت په دې لرې چې د هغه وخت په لبنان کښې چې ښخو ته په کوم نظر کتلے شو او په تولنيز ژوند کښې چې مذهبي مشرانو کوم کردار ادا کاوۀ هغه اوس هم زمونږ د پښتني تولنيز ژوند دپاره تر ډېره حده Relevent دے او د دې کتاب د ترجمې او زيات نه زيات اشتهار يو مقصد دا هم دے چې د قام خواخوږي او وطن دوسته پښتانۀ خپل دې کمزورئ اړخ ته متوجه شي.

د نن نه شپږ اتۀ کاله وړاندې ما د خپلو څو ملګرو په وړاندې دا خيال ظاهر کړے وۀ چې کۀ چېرې څوک ملګرے دا کتاب پښتو ته واړوي نو ډېره به ښۀ وي. خبره لاړه راغله او بالاخره د پروفېسر صاحب شاه صابر د رائې سره سم د دې کار ذمه واري هم ماته را په غاړه شوه. ترجمه مې وکړه خو چاپ کول ئې رانه وځنډېدۀ او کله چې پروفېسر ډاکټر صاحب شاه صابر وفات شۀ نو د هغۀ خواهش ته د درناوي ورکولو په غرض ما د دې ترجمې د پاڼو نه دوړې وڅنډلې او پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم او پروفېسر زبېر حسرت ته مې د املا د اصلاح دپاره ولېږلې. د هغوي سره دې خدائے ښۀ شي، پوره پوره لاس ئې راسره وکړۀ او زۀ د دې جوګه شوم چې دا ترجمه چاپ کړم او خپلو پښتنو لوستونکو ته ئې وړاندې کړم.

ډاکټر خالق زيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



PUKHTO.NET

## ړومبي ټکي

زما عمر اتلس (۱۸) کاله وه چې مينې د خپلو کوډګرو پلوشو په ذريعه زما سترګې پرانستې او په ړومبي ځل ئې په خپلو مينه ناکو ګوتو زما روح وتښناوه او سلمیٰ کرامي هغه ړومبۍ ښځه ذات وه چې د خپل ښائست په زور ئې زما روح راويښ کړه او زه ئې د سپېځلي محبت باغ ته بوتلم، چېرته چې ورځې د خوبونو په رنګ او شپې د ودونو د شپو په رنګ تېرېږي.

سلمیٰ هغه ښځه وه چې ماته ئې خپل ښائست مثال کړه. د ښائست د عبادت کولو چل ئې راوښوده او د خپل محبت په وسيله ئې د مينې په رازونو پوه کړم. هم دا ښځه وه چې ماته ئې په اول ځل د حقيقي ژوند شاعري د سندرې په ډول واوروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځوان خپله رومبۍ مینه یاده ساتي او غواړي چې هغه ناآشنا لمحې بیا بیا ذهن ته راولي د کومو یاد چې د هغهٔ په احساساتو کښې ژور بدلون راولي او د خپل پر اسراریت د ترخو باوجود د هغهٔ زړهٔ ته خوشحالي ورکوي.

د هر ځوان په ژوند کښې یوه سلمیٰ ارومرو موجوده وي چې په ناڅاپي توګه د هغهٔ د ژوند په سپرلي کښې هغهٔ ته ځان څرګندوي او د هغهٔ تنهائي په خوشحاله لمحو بدلوي او د شپو چپه چپتیا ورله د نغمو نه ډکوي.

زهٔ په سوچونو او فکرونو کښې ډوب وم او غوښتل مې چې د کتابونو او مقدسو صحیفو په الهام او د فطرت په معنیٰ ځان پوه کړم. عین په دې وخت کښې مینې د سلمیٰ د شونډو په وسیله زما په غوږونو کښې ګونګوسے وکړهٔ تر څو چې ما سلمیٰ خپلې مخې ته د رڼا د یوې منارې په شکل کښې ولاړه نهٔ وه لیدلې نو هسې خو مې په تن کښې ساه تله راتله ولې په ځان خبر نهٔ وم او ژوند مې داسې خالي وهٔ لکه چې په جنت کښې د آدم ژوند وهٔ.

هغه زما د زړهٔ حوا وه چې زما زړهٔ ئې د رازونو او حیرانیو نه ډک کړهٔ او زهٔ ئې د ژوند په معنیٰ پوه کړم.

رومبۍ حوا، آدم په خپله خوښه د جنت نه بهر کړهٔ او سلمیٰ د خپلې مینې او زړهٔ راکښون په زور زهٔ په خپله خوښه د پاکې مینې او سپیڅلتیا جنت ته داخل کړم خو څهٔ چې د رومبي سړي (آدم) سره شوي وو، هغه زما سره هم وشو او د کومې تېرې تورې په زور چې آدم د جنت نه راویستلے شوے وهٔ، د هغې پر قهېدونکي دار زما زړهٔ هم په لړزان کړهٔ او بالاخره د خپلې مینې د جنت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوشړلې شوم سره د دې چې ما نه خو څه نافرماني کړې وه او نه مې د هغه ونې مېوه څکلې وه، په کومه چې قدغن لګېدلی وه.

په مېنځ کښې ډېر کلونه واوړېدل اونن که زه د دغه ښکلي خوب په لړ کښې څه لرم نو هغه فقط هغه دردناک يادونه دي چې زما نه چاپېره چورلي او ماته په نظر نه راځي خو زړه مې د حسرتونو نه ډکوي او د سترګو نه مې اوښکې تويوي. زما مينه، ښکلې سلمیٰ مړه ده او د هغې که څه يادګار پاتې دے نو هغه زما زړه او د هغې خپل قبر دے چې چاپېره ترې د سبر ونې ولاړې دي د سلمیٰ د وجود د ګواهۍ دپاره د دې مات زړه او دغه قبر نه اخوا نور هېڅ هم نشته.

هغه خاموشي چې د سلمیٰ په قبر پېره ورکوي، د تابوت په تيارو کښې د خدائې د راز نه پرده نه اوچتوي او د هغه ښاخونو شغارې د قبر د رمز و راز قيصې نه بيانوي د کومو زېلې چې د هغې د وجود اجزاء راکاږي خو زما د زړه سوي آهونه نړۍ ته هغه ډرامه وړاندې کوي چې مينې، ښائست او مرګ ستېج کړې ده.

اے د بېروت په ښار کښې زما خورو ورو د ځوانۍ يارانو! تاسو چې کله د زېغوزو د ځنګل په خوا کښې په دغه اديره تېرېږئ نو دې ته ډېر په خاموشۍ سره ورداخلېږئ او داسې په قلاره تګ کوئ چې ستاسو د پښو ښکالو د مړو په خوب کښې خلل وانه چوي. د سلمیٰ قبر ته په عاجزۍ ودرېږئ او هغه زمکې له مبارکي ورکوئ چې د هغې وجود له ئې ځائې ورکړے دے. د يو سوړ اسوېلي سره زما نوم اخلئ او وايئ "دا هغه ځائې دے چېرته چې د هغه جبران ټول اميدونه د خاورو لاندې شوي دي، څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د مینې د یو قیدي په حیث د سمندرونو نه اخوا ژوند تېروي. هم په دې ځائې هغهٔ خپله خوشحالي د لاسه ورکړې ده، اوښکې ئې توئې کړې دي او خندائې هېره کړې ده".

په دې قبر باندې د جبران حسرتونه د سبر د ونو سره یو ځائې راټوکېږي او روح ئې ورباندې هره شپه لکه د مړکېدونکي لاټېن پړپ پړپ کوي. د ونو د ښاخونو سره په دردناک ویر کښې شاملېږي، ماتم کوي او د هغه سلمٰی جدایي ژاړي چې پرون د ژوند په شونډو د یوې ښکلې نغمې په ډول موجوده وه او نن د زمکې په سینه کښې د یو خاموشه راز په توګه پرته ده.

اے زما د ځوانۍ ملګرو! زهٔ تاسو ته د هغه پېغلو د نومونو په روي خواست کوم چې ستاسو زړونو ورسره مینه کړې ده چې زما د محبوبې په شاړ شوي قبر باندې د ګلونو ځادرې خورې کړئ ځکه چې دغه ګلونه چې تاسو ئې د سلمٰی په قبر غوړوئ داسې دي لکه چې په یو مړاوي ګلاب د سباؤن د سترګو څاڅکي د پرخې په شکل پرېوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



PUKHTO.NET

# خاموشه خېګان

اے زما ګاونډیانو! تاسو چې د ځوانۍ سباؤن را یادوئ نو خوشحالېږئ او په تېرېدو ئې لاس مروړئ خو زۀ د ژوند دغه برخه داسې یادوم لکه یو قېدي چې د زندان سلاخونه او ځولنې یادوي. تاسو د ماشوموالي او ځوانۍ تر مېنځ عمر ته د پابندۍ او احتیاط نه ازاد ژوند وایئ خو ما ته دغه دور د هغه خاموشه خېګان دور ښکاري کوم چې لکه د تخم د دانې غونډې زما زړۀ ته راپرېوتۀ، هم د دۀ سره یو ځائې لوئې شۀ او تر هغه وخته ئې د پوهې او عقل دنیا ته د وتلو لار ونۀ موندہ تر څو چې مینه نۀ وه راغلې او زما د زړۀ ورونه ئې نۀ وو بېرته کړي او ګوټ ګوټ ئې ورله نۀ وۀ روښانه کړے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې ما له ژبه هم راکړه او اوښکې هم. تاسو باغونه، بڼونه، د ملاقات ځایونه او د کوڅو کوټ، پېږونه یادوئ کوم چې ستاسو د لوبو او معصومانه ګونګوسي ګواهان دي او ماته هم د قطبي لبنان زړه راکښونکي ځایونه په یاد راځي. زه بیا بیا سترګې پټوم او په تصور کښې دغه ښکلي او د قدر وړ علاقه او د اسمان سیال درانهٔ او با وقاره غرونه وینم. زهٔ بیا بیا د ښار په شور او غوغا غوږونه کانهٔ کړم او د خپلې علاقې د لښتو شرارې او د ونو شغارې اورم. د کومو ښائستونو ذکر چې ما وکړهٔ او د کومو لیدو ته چې زهٔ داسې لېواله یم لکه ماشوم چې د مور غېږې ته لېواله وي. هم په دغه ښائستونو پسې زما روح نا ارامه دے او د ځواني په تیارو کښې ئې داسې بند کړے دے لکه چې د پنجرې باز په پراخه فضا کښې د مرغیو سیل ویني او نیم نیم ورته تویږي. د دغه مېدانونو او غرونو تصور زما تخیل له وزرې ورکړي خو ناخوښ خیالونه زما د زړهٔ نه چاپېره د نا امېدۍ جال خور کړي.

هر ځل چې زهٔ دغه مېدانونو ته تللے یم نو زړهٔ مې مات راوړے دے او په دې نهٔ یم پوهېدلے چې زما د مایوسۍ وجه څهٔ ده. هر ځل چې ما د اسمان په لوري کتلي دي نو زړهٔ مې پرېوتے دے، هر ځل چې ما د مارغانو اوازونه او د چینو شور ماشور اورېدلے دے نو زما زړهٔ ته درد رسېدلے دے خو په دې نهٔ پوهېږم چې داسې ولې کېږي. خلک وائي چې فطري ساده ژوند سړے تش مېنځې کوي او دغه قدوالے په هغهٔ کښې بې پرواهي پېدا کوي خو زما په خیال دا په هغه چا صدق کوي څوک چې مړهٔ پېدا شوي وي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واورې شویو لاشونو په ډول ژوند تېروي. یو حساس وجود چې محسوسوي ډېر او پوهېږي لږ. د ځمکې په سر د ټولو نه زيات بدبخته مخلوق دے ځکه چې هغه د دوو قوتونو ترمېنځ انښتے وي. رومیے قوت ئې مخ په وړاندې وړي او د خوبونو د ورېځو په شا ورباندې د ژوند د ښائست تنداره کوي. دوېم قوت ئې د ځمکې سره تړي، سترګې ورله د دوړو نه ډکوي او د وېرې او تيارو په پنجه کښې ئې ورکوي.

د تنهايي لاسونه ډېر پاسته او نرم دي ولې ګوتې ئې ډېرې کلکې او زړې دي او چې زړه ونیسي نو درد او څړيکې ئې د څۀ سره سمې نۀ وي. تنهايي هم د خپګان ملګه ده او هم د روحاني سرلوړي.

د هغه وجود روح چې د حسرت د څپېړې لاندې وي، د هغه خولۀ پرانستونکي سپين زينک (LiLy) مثال لري چې هوا ئې وړي راوړي، د ورځې په راتلو خپل زړۀ سپړي او چې شپه لګي نو خپلې پاڼې بېرته راټولوي. کۀ چېرې دغه وجود نور څه ونۀ لري يا د خپلې لوبې دپاره دوستان او ملګري پېدا نکړي نو ژوند بۀ ئې د يوې تنګې قبدخانې په مثال وي چې په هغې کښې د ليدو دپاره د جولاګې د ځالې او د اوربدو دپاره د حشراتو د تګ راتګ د کش پش نه اخوا نور هېڅ هم وجود نۀ لري.

د دغه حسرت چې زۀ ئې په ځوانئ کښې د ښښو لاندې کړے وم. وجه نۀ خو دا وه چې ګنې زما په ژوند کښې تفريح نۀ وه ځکه چې د تفريح پېدا کول زما د لاس کار وۀ او نۀ دا وه چې ګنې زما دوستان نۀ وو ځکه چې ما دوستان هم پېدا کولے شو. په حقيقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنبي د دې حسرت وجه دا وه چې زهٔ په يو داسې ذاتي رنځ اخته وم چې په تنهايي ئې مئين کړے وم. دې رنځ په ما کښې د تفريح او لوبو شوق وژلے وهٔ. زما د اوربو نه ئې د ځواني، وزرې پرې کړې وې او زما نه ئې د غرونو د مېنځ هغه ډنډ جوړ کړے وهٔ چې په خپل خاموشه مخ د اروا ګانو سيوري او د وريځو او ونو رنګونه منعکس کوي خو د سمندر په لور د سندره ايز تګ د پاره لار نهٔ مومي.

تر هغه وخته زما ژوند هم په دې ډول وهٔ تر څو چې زهٔ اتلس (۱۸) کلن شوے نهٔ وم. دا کال زما د پاره داسې وهٔ لکه د غرهٔ پورتنى څوکه څکه چې دې کال زما په وجود کښې علم راوينن کړهٔ او د انسانانو بدليدونکے فطرت ئې راته په ګوته کړهٔ. په دغه کال زهٔ په دوېم ځل دنيا ته راغلم او تر څو چې سړے په دوېم ځل دنيا ته نهٔ وي راغلے نو د هغهٔ ژوند د کائنات په کتاب کښې د يوې تشې (خالي) پاڼې په مثال وي. په دغه کال ما د جنت فرښتې وليدې چې د يوې ښکلې ښځې د سترګو په ذريعه ئې ماته په څير څير کتل. ما د دوزخ شيطانان هم وليدل چې د يو بدکاره سړي په زړهٔ کښې ئې خرمستى کولې. هغه څوک چې د ژوند په ښائست کښې فرښتې او په بدرنګى کښې ئې شيطانان نهٔ ويني، هغوي به چېرې هم نهٔ خو د علم خزانې ته نزدې شي او نه به ئې په روح کښې د محبت زنې زرغون شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# د تقدیر لاس

د دې رنګین کال د سپرلي په موسم کښې زۀ په بېروت کښې وم. باغونه د نسان د ګلونو نه ډک وو او په زمکه د شنو وښو قالین غوړېدلے وۀ او داسې ښکارېده لکه چې زمکې اسمان ته خپل پټ راز په ډاګه کړے وي. د نارنجانو او مڼو ونو د خوشبوداره ګلونو سپینې جامې اغوستې وې او لکه د حورو او یا ناویانو غوندې ښکارېدې. د دې حسن په رالېږلو کښې د قدرت راز دا وۀ چې شاعران راوپاروي او تخیل راوېښ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپرلي هر ځائې ښکلي وي خو د لبنان سپرلي سارې نۀ لري. د سپرلي ښائست د هغه روح په مثال دې چې د زمکې نه چاپېره چورلي خو په لبنان کښې ټکاوېږي او د پېغمبرانو او بادشاهانو سره خبرې کوي. د سیندونو سره د سلیمان سندرې وائې او د سبر د مقدسو ونو سره د لبنان د پخواني. دبدبې یادونه تازه کوي. په دې وخت کښې بېروت د ژمي د ختمو نه او د اوړي د دوړو نه آزادوي او داسې نظاره ورکوي لکه په سپرلي کښې چې پېغلې ناوې شوې وي او یا سمندري ښاپېرۍ د ویالې په غاړه ناسته وي او په لمر خپل نازک پوستکي وچوي.

د نسان په میاشت کښې زۀ یوه ورځ د خپل یو دوست کور ته لاړم. هغه د دې ښکلي ښار نه لرې غونډې ېبرته اوسېدۀ. مونږ په خبرو کښې بوخت وو چې یو درونډ سړې چې عمر ئې خواوشا ۲۵ کاله وۀ کورته راننوتو. څنګه چې زۀ هغۀ ته د سترې مشي دپاره ودرېدم نو زما دوست د هغۀ سره زما پېژندګلو وکړه. ما ته ئې اووئیل چې دا فارس افندي کرامي دې او بیا ئې زما نوم د ستاینې د خو ټکو سره د هغۀ غوږونو ته وررورساوۀ. دې مشر سړي ماته لږ غونډې وکتل، د ګوتو سرونه ئې په تندي کېښول. داسې ښکارېده لکه چې د څۀ خاص څیز د رایادولو کوښښ کوي. بیا مسکې شۀ او زما په لوري راروان شۀ او اوئې وئیل چې " ته زما د یو ډېر خوږ دوست زوې ئې او زۀ په دې ډېر خوښ یم چې نن ستا په شکل کښې خپل هغه ګران دوست وینم."

د دې سړي خبرو په ما ډېر اثر وکړۀ او زۀ ئې داسې څان ته راکښم لکه مرغۍ چې د توپان نه وړاندې خپل جبلت د څالې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور راکاږي. موږ چې څنګه کښېناستو نو هغۀ زما د پلار او خپلې دوستۍ خبره راواخسته او د هغه وخت یاد ئې تازه کړۀ کوم چې دوي دواړو یو ځائې تېر کړے وۀ. بوډا سړے د خپلې ځوانۍ د ورځو یادونو ته داسې لېوالۀ وي لکه څنګه چې مسافر خپل وطن ته د بېرته تلو ارماني وي. هغه د خپل تېر وخت په قیصو اورولو کښې داسې خوشحالي محسوسوي لکه چې یو شاعر د خپل غوریز نظم په بیا بیا لوستو خوشحالېږي. هغه په روماني ډول په تېر وخت کښې اوسېږي ځکه چې موجوده وخت ډېر په تېزۍ سره تېرېږي او د راتلونکي وخت تصور د هغۀ دپاره د قبر په تیارو کښې د ورکېدو منظر پیش کوي. په زړو یادونو کښې یوه ګنټه (ساعت) داسې تېره شوه لکه د ونو سیوري چې د وښو دپاسه تېرېږي. کله چې فارس افندي رخصتېدۀ نو خپل کیڼ لاس ئې زما په اوږه کېښودۀ. زما ښي لاس ئې په لاس کښې ونیوۀ او اوئې وئیل "ما ستا پلار شل کاله نۀ دے لیدلے، هیله ده چې تۀ به زما کور ته په زر زر راتلو د هغۀ ځائې ونیسې" ما ورسره لوظ وکړۀ چې زۀ به د خپل پلار د خوږ دوست په لړ کښې خپله ذمه واري پوره کوم. کله چې دا مشر سړے د کوره بهر شۀ نو ما خپل دوست د دۀ په باره کښې د نورو معلوماتو دپاره وپوښتۀ. هغۀ اووئیل چې "زه په بېروت کښې بل داسې سړے نۀ پېژنم چې خپل دولت زړۀ سواندے کړے وي او خپل زړۀ سواند یتوب دولتمند کړے وي. دے د هغه څو کسانو د جملې نۀ دے څوک چې د پیدا ئېښت د وخت نه تر د مرګه پورې هیڅ ته زیان نۀ رسوي خو دا قسمه خلک اکثر غمژن او د فشار لاندې وي ځکه چې دوي دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چالاک نه وي چې خپل ځانونه د نورو د منافقت نه وساتي. د فارس افندي يوه لور ده چې په خوئي خصلت کښې هم د دهٔ پشان ده او د ښائست او درنښت بيان ئې په سړي د ټکو قات راولي خو د هغې ژوند به هم غمژن وي ځکه چې د هغې د پلار شتمني هغه اوس هم ذ يو خطرناک ګړنګ سرله رسولې ده".

دا ټکي چې څنګه د هغهٔ د خولې نه راووتل نو ما محسوس کړه چې د مخ رنګ ئې بدل شهٔ. بيا هغهٔ خپله خبره جاري وساتله "فارس افندی د ډېر ښهٔ زړهٔ څښتن دے ولې خود اعتمادي پکښې نشته. خلک په هغهٔ لکه د ړوند غونډې لوبې کوي. لور ئې د خپل درنښت او ذهانت باوجود د هغهٔ هره خبره مني او دا د پلار او لور د ژوند پټ راز دے. د دې راز نه په اول ځل يو شيطان سړي پرده اوچته کړه. دا سړے يو پادري دے چې بدعملۍ ئې د انجيل د سيوري لاندې پټې دي. هغه خلکو ته ځان ډېر زړهٔ سواندے او ښهٔ سړے وړاندې کوي. هغه د مذهبي خلکو په دې خاوره د مذهب مشر دے، خلک ئې خبره مني او لوړ مقام ئې ورکړے دے. هغه دا خلک د خپلې بربادۍ په لور داسې بيايي لکه چې سړے د ګډورو کنډک قصاب خانې ته بوځي. د دې پادري يو ورارهٔ دے چې ډېر غلط کار او د کرکې وړ سړے دے. زر ده او کهٔ پس خو هغه ورځ راتلونکې ده چې دا پادري به خپل ورارهٔ ښې ارخ ته او دافندي لور کيڼ ارخ ته ودروي او په خپلو ناپاکه لاسونو به د وادهٔ څادر د هغوي په سرونو نيسي. د يو پليت، بې لارې سړي سره به يوه پاکه پېغله تړي او دارنګې به د ورځې زړهٔ د شپې په ځولۍ کښې اچوي. دا د فارس افندي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغهٔ د لور په باره کښې هغه نول معلومات وو چې ما لرل او د دې نه اخوا کهٔ نورې پوښتنې وهٔ نهٔ کړې نو به ښهٔ وي.

د دې وېنا سره سم هغهٔ خپل مخ د کړکۍ (کلکښین) په لور واړاوهٔ او داسې ښکارېده لکه چې د انسان د هستۍ د مسئلو د حل په هڅه کښې د کائنات په ښکلا سوچ کوي.

د خپل دوست نه د رخصت اخستو په وخت ما هغهٔ ته اووئیل چې: "زهٔ په راروانو ورځو کښې د افندي کور ته په دې غرض ځم چې خپله وعده ورسره سرته ورسوم او هغه دوستۍ ته درناوے ورکړم چې فارس افندي او زما پلار ئې را یوځائې کړي وو". هغهٔ د لږ ساعت دپاره ماته په ځیر ځیر وکتل او ما د هغهٔ د مخ په تاثراتو کښې داسې بدلون محسوس کړهٔ لکه زما دا خو ټکي چې د هغهٔ دپاره د یو نوي فکر انکشاف وي. بیا په یو ناآشنا انداز کښې هغهٔ زما په سترګو کښې سترګې واچولې. د هغهٔ په دې نظر کښې مینه هم وه، ترس هم او وېره هم. دا نظر د هغه پېغمبر د نظر په مثال وهٔ څوک چې هغه څهٔ ویني کوم چې نورو خلکو ته نهٔ ښکاري. بیا کله چې زهٔ د دروازې په لور راروان شوم نو د هغهٔ شونډې لږې غونډې ورپېدې خو څهٔ ئې اونهٔ وئیل. دغه ناآشنا نظر زما د زړهٔ نه نهٔ وتهٔ خو په معنی ئې تر هغه وخته نهٔ پوهېدم تر څو چې د تجربې په هغه دنیا کښې تغړېدلے نهٔ وم چېرته چې زړونه د وجدان په برکت په یو بل پوهېږي او چېرته چې روحونه د پوهې په حواله کمال ته رسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زیارت سلام

یو څو ورځې پس په ما تنهایي غلبه وکړه او د کتابونو د بې رحمه مخونو نه تنګ شوم. یوه بګۍ مې په کرایه ونیوه او د فارس افندي کور ته روان شوم. کله چې هغه ننېترو ته ورسېدم چېرته چې خلک د تفریح(ساعت تېري) دپاره ځي نو بګۍ په یوه شخصي لاره سمه شوه چې په هر اړخ ئې د ولې د ونو سیوري وو. په تلو تلو کښې مونږ د شنې ګیاه، د انګورو د بېلانځو د نسان د رنګارنګ سمسورو ګلونو تماشه کوله

په یو څو دقیقو کښې بګۍ د یو ښکلي باغ په مېنځ کښې د یو کور مخې ته ودرېده. د ګلابو، ګارډېنیا او یاسمین خوشبویو فضا معطره کړې وه. چې زۀ د بګۍ نه کوز شوم او دې رنګین باغ ته ننوتم نو فارس افندي مې په نظر راغے چې ماته د سترې مشي وئېلو دپاره رازروان وۀ. هغۀ ماته ډېر تود هر کلے ووې او زۀ ئې کور ته بوتلم. هغه داسې په خوشحالۍ زما سره کښېناستۀ لکه پلار چې د زوي سره کښېني او زما د ژوند، مستقبل او تعلیم په لړ کښې ئې بلا تپوسونه وکړۀ. ما د هغۀ هره پوښتنه ځواب کړه. زما په اواز کښې طلب هم وۀ او لېوالتیا هم ځکه چې زما په غوږونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د لوړوالي د حمد جرس کړنګېدهٔ او د هیله مند خوبونو د خاموشه سمندر په سینه ګرځېدم. په دې وخت کښې یوه ځوانه ښځه چې سپینه رښمینه چوغه ئې اغوستې وه د دروازې د بخملي پردې د شا نه رابنکاره شوه او زما په لوري راغله. فارس افندي او زهٔ دواړه ورته پاڅېدو.

دې مشر سړي ماته اووئیل چې دا زما لور سلمیٰ ده او بیا ئې ورسره زما پېژندګلو څهٔ داسې وکړه: "قسمت ماله زما یو ډېر خوږ او پخوانے دوست د هغهٔ د زوي په شکل کښې بېرته راکړهٔ" سلمیٰ ما ته د لږ ساعت دپاره داسې په ځیر ځیر وکتل لکه چې دا یقین ئې نهٔ راتلو چې ګنې یو بهرنے سړے هم د هغوي کور ته راتلے شي. ما چې کله د هغې د لاس سره خپلې ګوتې ولګولې نو داسې راته محسوس شوه لکه چې سپین زنبک له مې لاس وروړے وي او د زړهٔ نه مې یو ناآشنا غوندې ځړیکه پورته شوه.

مونږ ټول داسې غلي کښېناستو لکه سلمیٰ چې د ځان سره څهٔ آسماني روح راوستے وهٔ او د هغهٔ په درناوي کښې چپ ناسته لازمه وه. کله چې هغې دا خاموشي محسوسه کړه نو مسکۍ شوه او ماته ئې اووئیل: "ماته زما پلار ډېر ځله د خپلې ځوانۍ او ستا د پلار سره د یو ځائې تېر کړي وخت قیصې کړې دي. کهٔ چېرې ستا پلار هم دغسې کړي وي نو بیا دا ملاقات زما او ستا تر مېنځ رومبے ملاقات نهٔ دے".

دا مشر سړے د خپلې لور د خبرو په دې انداز خوشحاله شهٔ او اوئې وئیل چې: "سلمیٰ ډېره حساسه ده. هغه هر څهٔ ته په روحاني نظر ګوري". د دې خبرې نه وروسته هغهٔ په پام او هنر سره خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې بیا پېل کړې. داسې ښکارېده لکه چې هغهٔ په ما کښې داسې کوم ګرزړهٔ راکښنون لیدلې وهٔ چې هغه ئې د یادونو په ځانګونو خپل تېر وخت ته رساوهٔ.

زهٔ چې کله د دې وخت نه د وروستي دور په عمر سوچ کوم نو هغه راته داسې مهربانه او د سر سیورے ښکاري لکه چې یوه لویه زړه ونه چې پخپله د توپانونو او سوکړو نه تېره شوې وي، په هغه وړوکي نازک بوټي خپل سیورے غوړوي چې د سباؤن د نرې باد زغم هم په ګرانه لري.

سلمٰی غلې ناسته وه. کله کله به ئې اول ماته وکتل او بیا خپل پلار ته. زهٔ او د هغې پلار په حقیقت کښې د هغې د ژوند د ډرامې رومبي او اخیري ټوکونه وو. په دې باغ کښې ورخ ډېره چټکه تېره شوه. ما د کړکۍ نه کتل چې لمر د لبنان د غرونو په سر په غرغره شهٔ. فارس افندي خپلې تجربې بیانولې او ما ډېرې په مینه او توجه سره اورېدلې او زما دې توجه او د اورېدو شوق د هغهٔ خپګان په خوشحالۍ بدل کړے وهٔ.

سلمٰی د کړکۍ خواته ناسته وه. د نظر نه ئې حسرت څڅېدهٔ خو په خولهٔ ئې څهٔ نهٔ وئیل خو بیا هم حسن پخپله هم یوه سپېڅلې ژبه لري چې د خولې د ژبې او د شونډو د اوازونو نه زیاته پیاورې او خوږه ده. دا ژبه د وخت د قېد نه ازاده ده او د ټولو انسانانو تر مېنځ شریکه ده. د دې ژبې مثال د هغه ډنډ دے چې سندره ایز لښتې خپل بېخ ته راکاږي او خاموشه کوي ئې.

په دنیا کښې صرف د انسان روح هغه شے دے چې ښائست پېژني یا ورسره یو ځائې اوسېږي او وده کوي. ښائست سرے په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کښېږ اچوي مونږ د دې جوګه نه یو چې ښائست په ټکو کښې بیان کړو. دا هغه احساس دے چې زمونږ سترګې ئې نه شي لیدے او هغه څوک وربانديږ پوهېږي چې ننداره کوونکے وي او یا ئې ننداره کېږي. حقیقي ښائست هغه پلوشه ده چې د روح د مقدسو خانو نه راخېژي او وجود ته رڼا ورکوي لکه څنګه چې د زمکې د لاندینو برخو نه ژوند راپورته کېږي او ګل ته رنګ او خوشبوئي وربخښي. حقیقي ښائست د روحاني موافقې (سمون) نه عبارت دے چې د مینې په نوم یادېږي او د یو سړي او یوې ښځې ترمېنځ جوړېدے شي.

دا چې زما او سلمیٰ روحونه هم په دغه ورځ یو بل ته غاړه وتل په کومه ورځ چې زمونږ لیدل کتل وشو او یا دا چې دغه ارمان ماته هغه د زمکې په سر د ټولو نه د ښکلې ښځې په رنګ کښې وښودله؟ او که نه د ځوانۍ نشې ماته هغه څیز ښکلے ښکاره کړو کوم چې د سره وجود نه درلودو؟

دا چې زما ځوانۍ زما د سر سترګې ړندې کړې او ما ته ئې په خیالي توګه د هغې سترګې روښانه، خوله خوږه او قامت باوقاره وښودو؟ او که نه د هغې روښانه سترګو، خوږ لت او وقار زما سترګې پرانستې او زه ئې د مینې په خوشحالو او دردونو پوه کړم. د دې سوالونو ځواب ورکول اسان کار نه دے خو دا زه په ایمانداري وایم چې په دغه وخت کښې زما احساسات څه داسې وو چې د دې نه وړاندې ورسره زه چېرې هم مخامخ شوے نه وم. یو نوے محبت زما په زړه کښې داسې پروت وو لکه چې د دنیا د پیدا ئښت په وخت روح د اوبو د پاسه په هوا کښې وزرې وهلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د دغه محبت نه خوشحالۍ او خپګانونه راوزېږېدل. دغسې د سلمۍ سره زما رومبې ملاقات سر ته ورسېدۀ او خدائے زۀ د تنهايۍ او ځوانۍ د زنځيرونو نه ازاد کړم او د مينې په لار د تلو اجازت ئې راکړۀ.

په دنيا کښې کۀ مونږ څۀ څيز ته ازادي وئيلے شو نو هغه مينه ده ځکه چې دا د سړي روح دومره بره ورسوي چې د انسانيت ضابطې او د قدرت مظاهر (پديدې) ئې لار نۀ شي بدلولے.

چې زۀ د رخصت اخستو دپاره راپاڅېدم نو فارس افندي ماته رانزدې شۀ او په ټينګه ئې راته اووئيل چې "بچيه! تا اوس د دې کور لار وليده. هيله لرم چې تۀ به دې کور ته داسې زر زر ځې راځې لکه زوي چې د پلار کور ته ځي راځي. ما خپل پلار وګڼه او سلمٰی خپله خور" د دې خبرې سره سم هغۀ سلمٰی ته داسې مخ راواړوۀ لکه چې د هغې نه ئې د خپلې خبرې تصديق غوښتۀ. هغې خپل سر په اثبات کښې وخوزاوۀ او بيا ئې ماته داسې وکتل لکه سړي ته چې خپل زوړ اشنا په لاس ورشي.

د فارس افندي دې ټکو زۀ د هغۀ د لور سره د مينې په ممبر څنګ په څنګ ودرولم. دا ټکي د يوې آسماني سندرې په مثال وو چې د روحاني لوړتيا او خوشحالۍ سره پېل شوه او په خپګان پائې ته ورسېده. دې ټکو زمونږ روحونه د رڼا او سوزوونکو شغلو دنيا ته اوچت کړل. دا ټکي د هغه پيالې په مثال وو چې مونږ تړې خوشحالي او درد دواړه وڅښل. زۀ بهر ته رازروان شوم. دا مشر سړے زما سره د باغ د غاړې پورې په جلب کښې راغے او زما زړۀ لکه د تږي سړي د شونډو بې واره رپېدۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رڼا مناره

د نسان مياشت تقريباً پائي ته ورسېده. زۀ د فارس افندي کور ته تلم راتلم او په دغه ښکلي باغ کښې مې د سلمىٰ سره ليدل کېدل. د هغې ښائست ته به مې په ځيرځير کاتۀ. ذهانت ته ئې هک پک وم او د حسرت خاموشي به مې اورېده. ما داسې محسوسوله لکه چې يو غېبي لاس ما د هغې په لور راکاږي.

هر ملاقات ما له د هغې د ښائست يوه نوې معنىٰ او د هغې د پاک روح د ليدو دپاره يو نوے نظر راکاوۀ. تر دې چې هغه زما دپاره يو داسې کتاب جوړه شوه چې زۀ ورباندې پوهېدم او د ځان سره مې په خوږ اواز وئيلے شوۀ خو هيچرې مې هم ختمولے نۀ شۀ. يوه ښځه چې خدائے پاک پټ او ظاهر، د روح او تن، ښائست ورکړے وي، يو داسې حقيقت وي چې مونږ ورباندې صرف د مينې په وسيله پوهېدے شو او صرف د سپېڅلتيا ګوتې وروړے شو او کله چې مونږ په ټکو کښې د هغې د بيانولو هڅه کوو نو هغه لکه د بخاراتو د قطرې زمونږ نه ورکه شي.

سلمىٰ کرامي روحاني او بدني ښائست درلودۀ خو زۀ ئې هغه چاته څنګه بيانولے شم، چا چې هغه د سره لېدلې نۀ وه. دا څنګه امکان لرلے شي چې يو مړ سړے د بلبلو اوازونه، د ګلاب خوشبوئي او د ويالو اسويلي راپه ياد کړي. دا څنګه ممکنه ده چې يو قېدي چې درنې ځولنې ورته پرتې وې د سبا د باد سره تګ وکړي. څوک څنګه وئيلے شي چې خاموشي د مرګ نه زياته دردناکه نۀ ده. چېرته داسې خو نۀ ده چې زما انا ما په ساده ټکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د هغې د ښائست بيان ته نۀ پرېږدي. ځکه چې زۀ په روښانه رنګونو کښې د هغې د ښتيني انځور د جوړولو استعداد نۀ لرم. په دشت کښې کۀ يو وږي سړي ته قدرت من و سلوىٰ نۀ ورکوي نو د وچې ډوډۍ نه به چېرې هم انکار وۀ نۀ کړي.

په خپله ښمينه سپين رنګې جوړه کښې سلمىٰ داسې نرۍ لښته ښکارېده لکه د سپوږمۍ وړانګې چې د کړکۍ نه راتېرېږي. د هغې په تګ کښې هم وقار وۀ او هم تال. اواز ئې ورو او خوږ وۀ او ټکي به ئې د خولې نه داسې راغوړځېدۀ لکه هوا چې ګل پاڼې وړقوي او د پرخې ځاځکي ترې راوغورځېږي.

خو د هغې د مخ به څه اووائې، د هغې د مخ نقشه راکښل د ټکو کار نۀ دے ځکه چې داسې ټکي نشته چې په يو وخت اول داخلي درد او بيا بې مثاله روحاني لوړتيا انځور کړي.

د سلمىٰ د مخ ښائست کلاسيک ښائست نۀ وۀ. هغه داسې وۀ لکه د الهام خوب، چې نۀ ناپ کېدے شۀ، نۀ ئې پوله معلومه وه او نۀ د سنګتراش ترېښخ او يا د انځورګر برش د هغې نقل جوړولے شۀ. د سلمىٰ ښائست د هغې په طلائي وېښتو کښې نۀ بلکې په هغه عصمت او پاکوالي کښې وۀ کوم چې د هغې نه چاپېره چورلېدۀ. د هغې د حسن راز د هغې په اوږدو سترګو کښې نۀ بلکې په هغه رڼا کې وۀ چې د دغه سترګو نه بهر راوتله، د هغې ښائست د هغې په سرو شونډو کښې نۀ بلکې د هغوي د الفاظو په خوږلت کښې پټ وۀ. د هغې غاړه سپينه او دنګه وه خو ښائست ئې په مخې اړخ ته لږ غوندې خم کښې پروت وۀ. هغه په دې نۀ وه ښکلې چې قامت ئې بې چکسه وه بلکې په دې چې د هغې روح

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلې وه او لکه د روښانه منارې د زمکې او اسمان ترمېنځ ولاړه وه. د هغې ښائست داسې وه لکه د شاعرۍ تحفه. خو شاعران هغه بدبخته خلک دي چې که روح ئې هر څومره لوړ الوځي خو دوي بیا هم د اوښکو په لفافه کښې بند پراته وي.

سلمٰی داسې جینۍ وه چې سوچ فکر به ئې ډېر کاوه او خبرې لږې. د هغې په خاموشۍ کښې د ساز داسې رنګ وه چې سړے به ئې د خوبونو دنیا ته وړه، د خپل زړه درزا به ئې وربانده اورېده او د خپلو خیالاتو او احساساتو روح به ئې ورله مخې ته داسې ودراوه چې د هغه په سترګو کښې به ئې سترګې اچولې وې.

هغې به تل د حسرت خرقه اغوستې وه او د دې په وجه هغه داسې ښائسته او باوقاره ښکارېده لکه چې یو ونه د ګل په وخت کښې د سحر په لړه کښې ښکلې ښکارې.

حسرت زما او د هغې زړونه د یو بل سره داسې تړلي وو لکه مونږ ته چې د یو بل په مخ کښې هغه هر څه ښکارېدل چې زمونږ زړونو محسوسول او د یو پټ اواز بازګشت مو اورېده. مونږ خدائے پاک دوه وجودونه په یو قالب کښې ځائې کړي وو او زمونږ جدائي د یو ذهني عذاب نه سېوا نوره هېڅ هم نشوه کېدے.

یو دردمن روح ته هغه وخت ارام راشي چې هم دغسې د یو بل دردمن روح سره یو ځائې شي. دوي په خپلو کښې داسې په مینه لاسونه ورکوي لکه په پردي وطن کښې چې یو مسافر د خپل وطن سړے وموميي. هغه زړونه د خوشحالۍ نشه د یو بل نه نۀ شي بېلولے کوم چې د حسرت په زنځیرونو تړلي شوي وي. کومه مینه چې په اوښکو وینځلې شوې وي هغه به تل ترتله پاکه او ښائسته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توپان

یوه ورځ فارس افندي زه خپل کور ته د ډوډۍ د پاره وبللم او ما دا بلنه قبوله کړه. زما روح د هغه سپېڅلي ډوډۍ وږي وه چي قدرت د سلمٰی په لاس کښې ایښودې وه. دا هغه روحاني ډوډۍ وه چي هر څومره به مو خوړه هومره به لا وږي کېدو. دا هغه ډوډۍ وه چي عربي شاعر قېس، ډانتې او سفو څکلې وه او د هغوي زړونه ئې لمبه کړي وو. دا هغه ډوډۍ وه چي د ښائست دیوی (goddess) ئې د پېو (کوکي) د خوږلت او د اوښکو د ترېخوالي نه جوړوي.

څنګه چي زه د هغوي کورته ورسېدم نو سلمٰی مې په نظر شوه چي د باغ یوې ونې ته ئې خپل سر اړم کړے وه، په "بېنچ" ناسته وه او داسي ښکارېده لکه چي یوه ناوې په خپله سپینه جوړه کښې ناسته وي او یا داسي لکه چي یو څوکیدار د څوکۍ په حالت کښې په نظر راځي.

زه ډېر په خاموشۍ او احترام سره ورغلم او د هغې خواته کښېناستم. ما خبرې نهٔ شوې کولے نو ځکه مې د زړونو ژبه یعني خاموشي غوره وګڼله خو ما محسوس کړه چي سلمٰی زما بې تکو پیغام اورېدهٔ او زما په سترګو کښې ئې زما د روح تنداره کوله.

څو دقیقې وروسته دغه مشر سړے بهر راغے او ماته ئې سترې مشې اووئیل. کله چي هغهٔ زما په لوري لاس راوغزاوهٔ نو ما داسي وګڼله لکه چي هغه هغې رازونو ته درناوے ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومو چې زۀ او د هغۀ لور را يو ځائې کړي وو. بيا هغۀ اووئيل چې
"زما بچيو! ډوډۍ تياره ده راځئ چې خورو ئې". مونږ راپاځېدو
او په هغۀ پسې روان شو. د سلمٰی ستر ګې روښانه شوې ځکه چې
د هغې د پلار د خولې نه مونږ ته د بچيو وئيلو سره د هغې مينې
ته يوه نوې ولوله په لاس ورغله.

مونږ مېز ته کښېناستو. ډوډۍ مو خوړه او د انګورو د اوبو نه
مو پسې شومې کول خو زمونږ روحونه په يوه ډېره لېرې دنيا
کښې ګرځېدل. مونږ د راتلونکي وخت او د هغې د ستونځو په
فکرونو کښې ډوب وو.

مونږ هغه درې کسان وو چې فکرونه مو بېل بېل وو خو مينې
په خپلو کښې د يو بل سره تړلي وو. هغه درې بې ازاره خلک چې
محسوسول ئې ډېر څۀ او پوهېدل په هيڅ نۀ. د دې ډرامې درې
بنيادي کردارونه وو. يو مشر سړے چې د خپلې لور سره ئې ډېره
مينه وه او هغې له د خوشحاله ژوند ورکولو ارماني وۀ. يوه ځوانه
پېغله چې عمر ئې خواوشا شل کاله وۀ او د راتلونکي وخت په
حقله فکرمنه وه او يو ځوان هلک چې د خوبونو په دنيا کښې
اوسېدۀ او بې فايدې سوچونه ئې کول. هغۀ نۀ خو د ژوند شراب
څښلي وو او نۀ د هغې سرکه او غوښتل ئې چې د مينې او پوهې
معراج ته ځان ورسوي خو حالت ئې دا وۀ چې د خپل وجود وزن ئې
هم نشۀ اوچتولے. مونږ درېواړو په دغه خوشې باغ کښې د لوئې
اسمان د سترګو لاندې خوراک څښاک کاوۀ خو زمونږ د ګلاسونو
په بېخ کښې خپګان او د ژوند تراخۀ پټ وو. څنګه چې مونږ د
ډوډۍ نه لاس راکښل نو د زنانه نوکرانو نه يوه راغله او وئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وئيل چې " بهر يو سړے د فارس افندي سره ملاقات کول غواړي" افندي تري پوښتنه وکړه چې "څوک دے؟" هغې ځواب ورکړه چې " د پادري سړے دے" د لږ ساعت دپاره خاموشي خوره شوه او افندي خپلې لور ته داسې وکاتهٔ لکه پېغمبر چې اسمان ته د وحې دپاره سترګې ونيسي. بيا هغهٔ نوکرې ته اووئيل چې" دننه ئې راولېږه" څنګه چې نوکره بهر شوه نو يو سړے چې مشرقي جامې ئې اغوستې وې او لوئې لوئې کونډه برېتونه ئې وو، کوټې ته راننوتهٔ. افندي ته ئې سلام وکړهٔ او اوئې وئيل چې " زهٔ پادري سلامت ستاسو سره د يوې ضروري خبرې دپاره په خپله ذاتي بګۍ کښې رالېږلے يم" چې دا ئې واورېدهٔ نو د دې مشر سړي رنګ والوتهٔ او په مخ ئې د خپګان نخښې ښکاره شوې. د لږ ساعت سوچ کولو نه وروستو ماته رانزدې شهٔ او په دوستانه انداز کښې ئې اووئيل چې " هيله ده چې زما د بېرته راتلو پورې به تهٔ په دې خوشې ځائې کښې د سلمیٰ د ملګرتيا دپاره ايسار شې"

د دې وېنا سره سم هغهٔ سلمیٰ ته مخ راواړوهٔ او په خندا ئې ورته اووئيل چې" داسې دې خوښه ده" هغې خپل سر وخوزاوهٔ خو اننګي ئې سرهٔ شو او په خپل د لاير (LYRE) نه خوږ اواز کښې ئې اووئيل چې " زهٔ به تر خپله وسه کوښښ کوم چې خپل مېلمه خوشحاله وساتم"

سلمیٰ تر هغه وخته بګۍ ته کاتهٔ تر څو چې فنا شوې نهٔ وه. بيا هغه راغلله او ماته مخامخ په شين ريښمين تو کي پټ ديوان باندې کښېناسته. هغه داسې ښکارېده لکه زينک (Lily) چې د سبا باد د شنو وښو په قالين راکوږ کړے وي. دا به د قدرت رضا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې زۀ د شپې په وخت کښې د سلمی سره د هغې په کور کښې د کوم نه چې ونې چاپېره وې او چېرته چې خاموشي، مينه، ښائست او عصمت يو ځائې اوسېدل، يوازې پاتې شوم

مونږ دواړه غلي ناست وو. يو د بل په انتظار وۀ چې خبرې به پېل کړي خو په خپلو کښې خبرې کول هغه يوازينی لار نۀ ده چې دوه روحونه وربانديې په يو بل پوهېږي. د شونډو او ژبې تکي چېرې هم زړونه يو بل ته نژدې کولے نۀ شي

ځۀ چې د خولې نه راووځي د هغې نه يو پيا وړے او پاک څيز هم وجود لري. خاموشي زمونږ روحونه روښانه کوي، زمونږ په زړونو کښې ګونګوسې کوي او يو بل ته ئې ترغاړه باسي، خاموشي مونږ د خپلو ځانونو نه رابېلوي. د روح په کور کښې مو د ګرځېدو جوګه کوي او د جنت غاړې له مو رسوي. خاموشي مونږ ته دا احساس راکوي چې وجودونه د قېدخانو نه سېوا نور هېڅ هم نۀ دي او دا دنيا داسې ځائې دے چې مونږ ورته راشړلي شوي يو.

سلمی ماته وکتل او سترګو ئې راته د زړۀ حال بيان کړۀ. بيا هغې په قلاره اووئيل چې "راځه چې باغ ته لاړ شو، د ونو لاندې کښېنو او د سپوږمۍ د راختو تماشه وکړو". زۀ په تابعدارۍ سره د خپل ځائې نه راپاځېدم خو اومې وئيل چې "خوښه دې نۀ ده چې تر هغه وخته دلته ايسار شو تر څو چې سپوږمۍ راختلې نۀ وي او باغ ئې رڼا کړے نۀ وي، ځکه چې تيارې ونې او ګلونه پټ کړي دي او مونږ ته هېڅ هم په نظر نۀ راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هغې اووئیل چې "کۀ تیارۀ زمونږ د سترګو نه ونې او ګلونه پټ کړي نو د زړونو نه خو مو مینه نۀ شي پټولے"

په یو ناآشنا انداز کښې د دې ټکو د ادا کولو نه وروسته هغې خپلې سترګې واړولې او د کړکۍ نه ئې بهر کتل شروع کړۀ. زۀ غلے پاتې شوم د هغې په الفاظو مې سوچ کاوۀ او په خپل ذهن کښې مې د دزستې معنې دپاره د هغوي یو یو تورے تالۀ. بیا هغې ماته داسې وکتل لکه چې په خپله خبره پښېمانه وي او د خپلو سترګو د جادو په زور زما د غوږونو نه دغه ټکي بېرته ویستل غواړي خو د هغې سترګو، په ځائې د دې چې زما نه دغه ټکي هېر کړي، زما په زړۀ کښې هغه خواږۀ ټکي بېرته روښانه کړل چې د وړاندې نه د تل دپاره تت شوي وو.

په دې دنیا کښې هر ښائست یا لویوالے د انسان د یوې جذبې یا فکر پېداوار دے. اوس چې مونږ د تېرو نسلونو د لاس جوړ څۀ هم وینو دا هر یو په وجود کښې د راتلو نه وړاندې د یو سړي په ذهن کښې د یو خیال په شکل کښې او یا د یوې ښځې په زړۀ کښې د یو ټکان (Impulse) په رنګ پېدا شوے وۀ. دا انقلابونه چې دومره وینې ئې وبیولې او د انسانانو ذهنونه ئې د ازادۍ په لور واړول په حقیقت کښې د یو سړي مفکوره وه چې د نورو په زرګونو سړو سره ئې یو ځائې ژوند کاوۀ. دا خطرناک جنګونه چې پوره پوره سلطنتونه ئې تباه کړي دي په حقیقت کښې د یو خیال په نتیجه کښې شوي دي چې د یو فرد په ذهن کښې راپېدا شوے وۀ. ستر تبلیغ چې د انسان لارې ئې بدلې کړې په اصل کښې د یو سړي په فکرونو ادانه وۀ څوک چې د خپل نابغه توب له کبله د خپل چاپېریال نه ښېل وۀ. یو واحد خیال اهرامونه (Pyramids)

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړل. د اسلام شان و شوکت ئې مېنځ ته راوړه او په سکندریه کښې د کتابتون د سوزولو موجب وګرځېدهٔ.

د شپې د سړي ذهن ته يو خيال راشي چې يا خو دغه سړے د درناوي په لور يوسي او يا ئې د پناه ځائې ته ورسوي. د يوې ښځې يو نظر د يو سړي نه د دنيا د ټولو نه خوشحاله سړے جوړولے شي. د يو فرد د خولې يو ټکے يو سړے مالداره کولے هم شي او غريب کولے هم.

په دغه شپه زهٔ د سلمیٰ د خولې يو ټکي د راتلونکي او تېر وخت په مېنځ کښې داسې ونښلولم لکه کشتئ چې د سمندر په مېنځ کښې ونښلي. دغه ټکي زهٔ د ځوانئ د خوبه راويښ کړم او په هغه ستېج ئې ودرولم چېرته چې مرګ او ژوند خپل خپل کردارونه لوبوي.

کله چې مونږ باغ ته راغلو نو د ګلونو خوشبوئي په هوا کښې خوره وه. مونږ په يو بېنچ د رامبېل د بوټي خواته کښېناستو. د اوده فطرت تلونکي راتلونکي ساه مو اورېده او پورته شين اسمان زمونږ د دې ډرامې په ننداره وه.

سپوږمئ د سنين د غر د شا نه را پورته شوه او په غونډيو، غرونو او ساحل ئې خپلې پلوشې خورې کړې او د دې سيمې نه چاپېره د کليو لړئ داسې ښکاره شوه لکه د جادو په زور چې بلاګانې د نيشت نه سمدستي په وجود کښې راشي. مونږ د سپوږمئ د رونبانه پلوشو لاندې د ټول لبنان تماشه کوله.

د مغرب د شاعرانو خيال دے چې لبنان يو افسانوي ځائې دے چې د داود(ع)، سليمان(ع) او پيغمبرانو نه وروسته داسې هېر

PUKHTO NET
پښتو ډاټ نېټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې شوې دې لکه څنګه چې د عدن باغ د آدم او د حوا نه وروسته د خلکو د خیاله وتې دې د دغه شاعرانو په ذهن کښې لبنان د یو شاعرانه تاثر نوم دې چې د یو داسې غر سره تړلې دې چې لمنې ئې د مقدسو سبرو په خوشبویۍ کښې خوشتې دي. دا ښار هغوي له د کاپر (Copper) او ماربلو نه د جوړ شوي کوتلي کلیسا او د ځربدونکو هوسو د کنډک یاد تازه کوي. په دغه شپه ما لبنان د شاعر په سترګو لکه د یو خوب غونډې ولیدهٔ. دغسې د ځیزونو په رغونه کښې د جذباتو او احساساتو سره سم بدلون مېنځ ته راځي او مونږ ته پکښې زړهٔ راکښون او حسن ځرګند ېږي په داسې حال کښې چې دا زړهٔ راکښون او حسن هم په مونږ پورې اړه لري.

کله چې د سپوږمۍ پلوشې د سلمۍ په مخ، غاړه او مټو پرېوتې نو هغه داسې ښکاریده لکه یوه ښکلې مجسمه چې د عشتار (Ishtar) د عبادت کوونکي ګوتو جوړه کړې وي. د هغې چې ماته پام شۀ نو اوئې وئیل چې "تۀ ولې غلے ناست ئې؟ ماته ولې د تېر وخت په حقله څۀ نۀ وائې؟" ما چې هغې ته وکتل نو زما ګونګتوب ختم شۀ او شونډې مې پرانستې. ما اووئیل چې "ولې تا وانۀ ورېدۀ، څۀ چې ما دې باغ ته د راتلو په وخت کښې اووئیل؟ هغه روح چې د ګلونو ګونګوسې او د خاموشۍ سندرې اورېدلے شي هغه زما د زړهٔ درزا او د ذهن کریکې هم محسوسولے شي."

هغې مخ په لاسونو پټ کړۀ او په اننبتي اواز ئې اووئیل چې "هو، ما ستا احساسات محسوس کړل. ما یو داسې اواز واورېدۀ چې د شپې د سینې نه راپورته کېدۀ او یو داسې شور مې هم تر غوږو شۀ چې د ورځې په زړهٔ کښې ئې موجونه وهل."

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کښې زما نه خپل تېر وخت خپل وجود حتی چې د سلمی نه بغېر نور هر څۀ هېر شو. ما خواب ورکړۀ چې " زۀ هم ستا په زړۀ پوهېدم ما په هوا کښې يو داسې ساز محسوساوۀ چې زما زړۀ له ئې خوشحالي ورکوله او ټول کائنات ئې په لړزان کړے وۀ".

دا چې ئې واورېدل نو هغې خپلې سترګې پټې کړې او په شونډو ئې ما د خوشحالی داسې مسکا وليده چې د خپګان رنګ پکښې هم ځلېدۀ. بيا هغې غلې غونډې اووئيل چې " اوس ماته پته ولګېده چې د اسمان نه اوچت د سمندر نه ژور او د ژوند او مرګ او وخت نه زيات ناپېژندلي څيزونه هم وجود لري. اوس زۀ په هغه څۀ پوهه شوم په څۀ چې وړاندې نۀ پوهېدم"

په دغه وخت کښې سلمی ماته د دوست نه زياته خوږه، د خور نه زياته نزدې او د محبوبې نه زياته زړۀ ته راتېره په نظر راغله هغه زما دپاره يو ستر خيال، يو ښکلے خوب او زما د روح د قابونه بهر يوه جذبه جوړه شوه.

زۀ د دې فکر سره اتفاق نۀ لرم چې کښې محبت د اوږدې ملګرتيا او د مينې د متواتر اظهار په نتيجه کښې پېدا کېږي محبت د روحاني نزدېوالي پېداوار دے او دا نزدېوالے کۀ په يوه لحظه کښې پېدا نۀ شي نو بيا په کلونو او حتی نسلونو کښې هم نۀ شي پېدا کېدے.

بيا سلمی سرپورته کړۀ او د شفق په لور ئې هغه ځائې ته وکاتۀ چېرته چې د سنين غر د اسمان سره يو ځائې کېږي او ماته ئې اووئيل چې " پرون تۀ ماته لکه د ورور غونډې ښکارېدې د چا سره چې زۀ د خپل پلار د نظر لاندې په خاموشه انداز کښې کښېناستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



باځېدم خو اوس زه داسې څه محسوسوم چې د ورورۍ خه ریه د مینې نه زیات خوارهٔ او ناآشنا دي. اوس زما په ذهن کښې د مینې او وېرې یو داسې ګډې (مخلوط) ځائې نیولے دے چې زما زړهٔ ئې د خوشحالۍ او درد نه ډک کړے دے.

ما اووئیل چې "هم دا جذبه د کومې نه چې مونږ وېرېږو او رپ رپے راباندې راځي چې کله زمونږ د زړونو نه تېره شي نو د فطرت هغه قانون تړې جوړ شي چې د زمکې نه چاپېره سپوږمۍ او د خدائے نه چاپېره لمر ګرځوي"

هغې خپل لاس زما په سر کېښودهٔ او زما په وېښتو کښې ئې ګوتې اووهلې، مخ ئې سور شهٔ او د سترګو نه ئې اوښکې داسې راوځښېدې لکه د زینک په پاڼو چې د پرخې څاڅکي پرېوځي

هغې اووئیل چې "ځوک به دا ومني چې په دې وخت کښې مونږ د شک په خنداتو قابو وموندهٔ. دا به د چا زړهٔ ته پرېوځي چې د نسان میاشت چې مونږ ئې په ړومبي ځل یو ځائې کړو، هغه میاشت ده چې مونږ ئې د ژوند د تولنو نه په زیات مقدس ځائې کښې ودرولو"

د دې خبرو په دوران کښې د هغې لاس زما په سر پروت وهٔ او ما دغه نرم نازک لاس چې ګوتې ئې زما په وېښتو کښې الوول وې، نهٔ خو د بادشاهۍ په تاج ورکاوهٔ او نهٔ د بل کوم درناوي د ګلونو په ځادر

بیا ما ځواب ورکړهٔ چې "خلک به زمونږ په قیصه باور نهٔ کوي ځکه چې هغوي د دې نه نهٔ دي خبر چې مینه هغه ګل دے چې د موسم د مرستې نه بغېر راټوکېږي او جوبن ته رسي خو سوال دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے چې ایا دا د انسان میاشت وه چې مونږ ئې په ړومبي ځل را یو ځائې کړو او کۀ دا هم دا وخت دے چې مونږ ئې د ژوند د ټولو نه په مقدس ځائې کښې ایسار کړي یو ایا دا د الله پاک هغه لاس نۀ دے چې زمونږ روحونه ئې زمونږ د پېدا ایښت نه وړاندې د یو بل سره تړلي وو او مونږ ئې د تل دپاره د یو بل قېدیان جوړ کړي وو؟ د انسان ژوند نۀ خو د مور په خېټه کښې شروع کېږي او نۀ په قبر کښې پائې ته رسي او دا د سپوږمۍ او ستورو د رڼا نه ډکه فضا چېرې هم د مینه کوونکو روحونو او درک لرونکو ارواګانونه نۀ خالي کېږي.

څنګه چې هغې خپل لاس زما د سر نه راکښۀ نو ما د خپلو ویښتو په بېخ کښې د بجلۍ (برېښنا) یو داسې کرنټ (جریان) غونډې محسوس کړۀ چې د شپې د خوږې هوا سره اخښلے شوے وۀ. ما د سلمٰی لاس ونیوۀ، خپلې لمبه لمبه شونډې مې ورباندې کېښودې او داسې مې ښکل کړۀ لکه یو عقیدت مند چې په زیارت کښې ممبر ښکلوي. د دې مچې (کوکۍ) یاد اوس هم زما زړۀ وېلې کوي او په خپل خوږلت زما د روح ټول خصلتونه راویښوي.

یوه ګنټه تېره شوه خو هره دقیقه ئې د مینې د پوره کال برابره وه. د شپې خاموشۍ، د سپوږمۍ رڼا، ګلونو او ونو زمونږ نه د مینې نه اخوا نور ټول حقیقتونه هېر کړي وو. په دې کښې ناڅاپه مونږ د اسونو د پښو کړپهار او د بګۍ د پایو کړکړ واورېدۀ. دې اوازونو مونږ د خوږې بې هوشۍ نه رابېدار کړو او د خوبونو د دنیا نه ئې د سرګردانۍ او پر اسراریت دنیا نه راوستو. مونږ یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو چې د سلمٰی پلار د خپل کار نه راستون شهٔ. مونږ د هغهٔ د هر کلي دپاره راپاڅېدو او په باغ کښې د دروازې په لوري لاړو.

کله چې بګۍ د باغ خولې له راورسېده نو فارس افندي ترې راکوز شهٔ او زمونږ طرفته ورو ورو راروان شهٔ. هغه داسې تيټ راروان وهٔ لکه چې لوئې پېټے ئې په سر پروت وي. سلمٰی له راغے او خپل دواړه لاسونه ئې د هغې په اوږو کېښودل او په ژور نظر ئې ورته وکاتهٔ. د هغهٔ د سترګو نه په ضعيفه مخ اوښکې راروانې شوې او د يوې دردناکې مسکا په غرض ئې شونډې ورېږدې او په غرېو نيولي اواز ئې اووئيل چې "زما ګرانې سلمٰی! ډېر زر به تهٔ زما د لاسونه اووځې او د يو بل سړي ګوتو ته به ورسېږې. ډېر زر به تقدير تا د دې پوازې کور نه د دنيا د تولونه پراخه انګڼ ته وېسي او دا باغ به ستا د قدمونو ارماني پاتې شي او ستا پلار به ستا د پاره ناآشنا شي. هر څهٔ شوي دي، خدائے دې خوشحاله لره".

دا ټکي چې ئې واورېدل نو د سلمٰی د مخ رنګ وتښتېدهٔ اوسترګې ئې داسې په يو ځائې ودرېدې لکه د مرګ فرښته چې ئې د ځان په لور راروانه ليدلې وي. بيا ئې داسې چغې کړې لکه مرغۍ چې سړے اوولي او په زمکه پرپرېږي او په انښتې اواز ئې اووئيل چې "دا تهٔ څهٔ وائې؟ ستا مطلب څهٔ دے؟ تهٔ ما چېرته لېږې؟"

بيا هغې خپل پلار ته په دې غرض په سنجيده نظر وکاتهٔ چې د هغهٔ نه اصل راز معلوم کړي. لږ ساعت پس هغې اووئيل چې "زهٔ پوهه شوم، زهٔ په هر څهٔ پوهه شوم. پادري زهٔ ستا نه غوښتې يم او د دې مرغۍ چې ځانګونه ئې مات دي، دپاره ئې پنجره جوړه کړې ده. پلاره! تهٔ په دې رضا ئې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغهٔ خواب یو ژوراسویلې وهٔ. هغهٔ په نرمۍ سره سلمی کور ته دننه کړه او زهٔ په باغ کښې ولاړ پاتې شوم. زهٔ د سرګردانۍ ځپو داسې په مخه واخستم لکه د سیلۍ توپان چې د خزان پاڼې در په در زغلوي. بیا زهٔ د هغوي په پل د کور کوټې ته ورغلم او د دې دپاره چې د دوي په خبرو کښې خلل رانهٔ شي، فارس افندي ته مې لاس ورکړهٔ، خپل ښائسته ستوري سلمی ته مې وکاتهٔ او د کور نه بهر ته راروان شوم.

زهٔ چې کله د باغ اخیري سرته راورسېدم نو ما د دغه مشر سړي اواز واورېدهٔ او بېرته راستون شوم. هغهٔ په عذر سره زما لاس ونیوهٔ او اوئې وئیل چې "زویه! زهٔ بخښنه غواړم چې ما ستاسو ماښام په ژړا بدل کړهٔ خو کله چې زما کور کنډر شي او زهٔ یوازې او بې اسرې پاتې شم نو دا به ستا مهرباني وي چې دلته خپل تلهٔ راتلهٔ جاري وساتې. زما زویه! ځواني او زړښت د یو بل سره داسې نهٔ جوړېږي لکه ځنګه چې سحر او شپه د یو بل سره سمون نهٔ خوري خو تهٔ به زما خوا له راځې او زما د ځوانۍ د هغه ورځو یادونه به تازه کوې کومې چې ما او ستا پلار یو ځائې تېرې کړې وې او تهٔ به ماته د هغه ژوند خبرونه اوروې کوم چې اوس ما په خپل اولاد او ارزومندو کښې نهٔ حسابوي چې سلمی لاړه شي او زهٔ یوازې شم نو ګنې تهٔ به زما خواله نهٔ راځې؟

هغهٔ چې دا دردناکې خبرې کولې نو ما ئې په چپه خولهٔ لاس خوزاوهٔ. ما محسوسوله چې د هغهٔ تودې اوښکې زما په لاس راپرېوتې. د ډېر خپګانه او د اولاد د مینې د زوره زما وجود رپېدهٔ او داسې مې محسوسوله لکه چې د ډېره غمه مې زړهٔ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښودونکې وه. کله چې ما سر راپورته کړه او هغه زما په سترګو کښې اوښکې ولیدې نو هغه په ما رانښکته شوه او شونډې ئې زما په تندي کېښودې "څه زویه په مخه دې ښه، په مخه دې ښه"

د یو بوډا سړي اوښکې د یو ځوان سړي په نسبت زیاتې زورورې وي ځکه چې دا د هغه په وجود کښې د ژوند پاتې ونډه وي. د ځوان سړي اوښکې داسې وي لکه د ګلاب په پاڼو د پرخې څاڅکي. په داسې حال کښې چې د بوډا سړي اوښکې د هغه پاڼې په مثال وي چې د ژمي په سر کښې (پېل کې) د هوا سره راپرېوځي

زه چې د فارس افندي د کوره رابهر شوم نو بیا هم د سلمی اواز زما په غوږونو کښې ګرځېده. د هغې ښائست لکه د روح غوندې په ما پسې وه او د هغې د پلار اوښکې ورو ورو زما په لاس وچېدې

زه لکه د آدم غوندې د جنت نه راویستلے شوم خو زما د زړه حوا زما سره نه وه چې د دې ټولې دنیا نه ئې جنت جوړ کړے وے په هغه شپه، په کومه چې زه په دوبړي پېدا شوم، ما داسې محسوس کړه لکه چې د مرګ مخ مې په ړومبي ځل ولیده هم په دې ډول لمر په خپله تودوخه پټې راژوندي کوي هم او وژني ئې هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اور ډنډ

هر هغه څه چې سړے ئې د شپې په تیاره کښې په پټه کوي یو ځل د ورځې په رڼا کښې په ډاګه کېږي. هغه خبرې چې په خلوت کښې شوې وي یو ځل ناڅاپه د کوڅو د بحث موضوع جوړې شي هغه کړنې چې مونږ ئې نن د کورونو په ګوټونو کښې پټوو، سبا له به ئې په هره کوڅه کښې نغارې غږېږي.

دغسې د فارس افندي سره د غالب پادري د ملاقات د مقصد نه تیارو روحونو پرده اوچته کړه او په ټول ګاونډ کښې د هغوي ترمینځ شوې خبرې خورې شوې حتی چې زمنا غوږونو ته هم راورسېدې

د فارس افندي او غالب پادري ترمینځ چې کوم بحث شوے وه د هغې موضوع د غریبانو، کونډو او یتیمانو مسئلې نه وې. په فارس افندي پسې د سړي د رالېږلو او د پادري په ذاتي بګی کښې د هغه د وړلو بنیادي مقصد دا وه چې د سلمی او د پادري وراره منصور ترمینځ کوژدن وکړي

سلمی د مالدار پلار یکې یوه لور وه. په هغې د پادري نظر په دې وجه نه وه چې ګنې هغه ښکلې او شریفه وه بلکې په دې چې د هغې د پلار سره ډېر دولت وه او دغه دولت د منصور تقدیر بدلولے شو او د هغه نه ئې یو اهم سړے جوړولے شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشرق مذهبي مشران په خپل ښهٔ ژوند قناعت نهٔ کوي د هغوي هڅه دا وي چې د خپلې کورنۍ ټول غړي اعلی رتبې ته ورسوي او د خلکو په اوږو ئې سوارهٔ کړي.
د بادشاه د تخت میراث د هغهٔ مشر زوي ته پاتې کېږي. خو د مذهبي مشر لوړه رتبه د هغهٔ په ورونو او وریرونو کښې هم سرایت کوي. دغسې د عیسائي پادري. مسلمان امام او برهمن پنډت نه هغه نهنګ جوړ شي چې خپل ښکار په ګنو پنجو کښې نیسي او په بې شماره خولو ئې وینه راکاږي.
د سلمی پلار نهٔ غوښتهٔ چې خپله لور ضایع کړي نو ځکه د پادري د پوښتنې په ځواب کښې د هغهٔ د سترګو نه اوښکې لاړې او په خولهٔ ئې هېڅ اونهٔ وئیل.
هر سړے چې د خپلې یکې یوې او په ناز لویه کړې لور نه بېلېږي نو روح ئې په لړزان کېږي.
ځو مره چې مور او پلار د زوي په وادهٔ خوشحالېږي نو هم په دغه اندازه د لور په وادهٔ خپه وي ځکه چې د زوي وادهٔ په کورنۍ کښې د یو نوي غړي اضافه کوي او د لور وادهٔ د مور او پلار دپاره د هغې د بایللو معنی لري
فارس افندي پادري ته " ښه" وکړهٔ اګر چې زړه ئې نهٔ غوښتهٔ ځکه چې د پادري ورارهٔ هغهٔ ته ښهٔ معلوم وهٔ او دا ورته پته وه چې هغه یو خطرناک، د کرکې وړ، رزیل او بدکاره سړے دے.
په لبنان کښې کهٔ یو عیسایي د پادري خبره اونهٔ مني نو هېچرې هم په عزت کښې نهٔ شي پاتې کېدلے کهٔ څوک د یو مذهبي مشر نه سرغړونه وکړي نو د خلکو د نظره غورزېږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې او برجې په مقابله کښې سترګه خامخا ضائع کېږي همدارنګه کوم لاسي چې د تورې د ګوزار مخې له راځي هغه پرې کېږي کۀ چېرې فارس افندي د پادري خوښې ته غاړه نۀ وے اېښودلې نو د سلمٰی به بدنامي شوې وه او د شونډو او ژبو غلاظت به د هغې نوم داغدار کړے وۀ. د لومبړې په نظر کښې د انګورو هغه غونچکونه تراوۀ وي کومو ته چې هغه نۀ رسي

په دې توګه سلمٰی د تقدير په پنجه کښې ورغله او د يوې سپکې وينزې په رنګ ئې د مشرقي ښځو غمژن تولګي ته وردننه کړه او دغسې د سپوږمۍ په رڼا روښانه او د ګلونو په بوئې معطره فضا کښې د مينې په سپينو وزرو د الوت نه وروسته دغه سپېڅلے روح په لته (تلک) کښې ونښتۀ.

په ځينې هېوادونو کښې د مور او پلار دولت د اولاد دپاره د غم جوړ شي. هغه لوئې او کوتلے صندوق (بکسه) چې مور او پلار په ګډه د خپل دولت د خوندي کولو دپاره په کار راوستے وي، د هغوي د ميراث خورو د روحونو دپاره يوه تنګه او تيارۀ قبدخانه جوړ شي. دينار چې د حده زيات زورور دے او خلک ورته سجدې کوي په شيطان بدل شي او بيا روح ته سزا ورکوي او زړۀ وژني. سلمٰی د هغه ښځو د جملې نه يوه ثابته شوه چې د مور او پلار د دولت او د چنغول د وړ سترګي ښکار شوي دي کۀ چېرې د هغې پلار دولت مند سړے نۀ وے نو هغه به نن هم ژوندۍ وه او خوشحاله به وه.

يوه هفته تېره شوه. د سلمٰی مينه زما د تفريح واحده ذريعه وه چې د شپې به ئې زما دپاره د خوشحالۍ سندرې وئيلې او سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نې وختې د دې دپاره راویښولم چې د ژوند په معنی او د فطرت په راز ځان پوه کړم. دا هغه سپېځلې مینه ده چې حسد نه لري، غني ده او روح ته چېرې هم زیان نه رسوي. دا هغه نزدېوالی دے چې د سړي روح په اطمینان کښې خوشتوي، د محبت هغه لوړه ده چې د قناعت په صورت کښې د سړي روح د سخا نه ډکوي. هغه نزاکت دے چې بې د روح د پارونې نه امېدونه پیدا کوي، ځمکه په جنت بدلوي او د ژوند نه یو خوږ او ښائسته خوب جوړوي.

ما چې به کله د سحر د مخې په پټو کښې چکر واهه نو د فطرت په راویښېدو کښې به مې د ابدیت نخښې نخښانې لیدلې او چې کله به د سمندر په غاړه کښېناستم نو د موجونو نه به مې د ابدیت سندرې اورېدې او کله چې به په کوځو کښې ګرځېدم نو د لارویو په کړو وړو او د زیارې کښو په حرکاتو کښې به راته د ژوند ښائست او د انسانیت دبدبه په نظر راتله.

دغه ورځې د ارواګانو په څېر واوړېدې او د وریځو غوندې ورکې شوې او زما سره د دردناکو یادونو نه اخوا نور هېڅ هم پاتې نه شو. هغه سترګې چې ما به وریاندې د سپرلي د ښائست او د ویښېدونکي فطرت نظارې کولې اوس د توپان د غضب او د ژمي د بدبختیو نه اخوا نور هېڅ هم نه ویني. هغه غوږونه چې ما به وریاندې د موجونو سندرې اورېدې اوس صرف د سیلۍ انګولا او د ترو خلاف (پرضد) د سمندر د قهر و غضب اوازونه اوري. هغه روح چې د انسان د نه سترې کېدونکي مجال او د کائنات د شان و شوکت تماشه ئې په خوشحالۍ کوله، د ناکامۍ او نا امیدۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ په ليدو په لړزان دے. په دنيا کښې بل هيڅ څيز دومره ښائسته نشته لکه څومره چې د مينې ورځې وي او همدا رنګه هيڅ څيز دومره تريخ او څورووونکے نشته لکه څومره چې د خپګان دغه ويرونکې شپې وي.

کله چې زۀ د خپل زړۀ د غوښتنې په مقابل کښې د مزاحمت نه پرېوتم نو د رخصتۍ (چتيې) په ورځ يو ځل بيا د سلمٰی کور ته لاړم.

دا کور، چې د ښائست لاسونو ئې عمارت ودرولے وۀ او د مينې ګوتو ئې رنګ روغن کړے وۀ، زما دپاره نوے نۀ وۀ. دا د روح د عبادت او د زړۀ د سجدو او دعا غوښتلو ځائې وۀ. زۀ چې څنګه باغ ته داخل شوم نو داسې مې محسوسه کړه لکه چې يو قوت (قوه)، ما د دې دنيا نه ليرې ژ اکارې او په يو داسې مقام کښې مې ځائې کوې کوم چې په قدرتي ډول د مبارزې او کړاوونو نه ازاد دے. ما لکه د يو صوفي غوندې چې د قدرت رازونه ورته څرګندېږي، ځان د ګلونو او ونو په مېنځ کښې وليدۀ. څنګه چې زۀ د کور دروازې ته ورسېدم نو سلمٰی مې په نظر شوه چې د ياسمين د بوټي سيورې ته په بېنچ ناسته وه. دا هغه ځائې وۀ چېرته چې مونږ يوه هفته وړاندې د هغه شپې په وخت کښې ناست وو چې خدائے پاک زما د خوشحالۍ او خپګان د پېل دپاره خوښه کړې وه. زۀ چې د هغې خوا له ورسېدم نو هغه نۀ د خپل ځائې نه وخوزېده او نۀ ئې ماته څۀ اوؤيل. داسې ښکارېده لکه چې هغې ته خپل شپږم حس زما د راتلو خبر ورکړے وۀ. کله چې زۀ د هغې خوا ته کښېناستم نو هغې ما ته د لږ ساعت دپاره په غور وکاتۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ئې یو سوړ اسویلې وکړۀ. خپل مخ ئې بل طرفته وګرځاوۀ او اسمان ته ئې وکاتهٔ. د لږ ساعت د زړۀ راکښونکې خاموشۍ نه وروسته، هغې بیا زما طرفته مخ راواړاوۀ. په رپېدونکي لاس ئې زما لاس ونیوۀ او په کمزوري اواز کښې ئې اووئیل چې "زما ملګریه! ماته وګوره! زما مخ مطالعه کړه! او هغه څۀ پکښې ولوله کوم چې ته غواړې او زۀ ئې وئیلې نۀ شم. زما جانانه. زما وروره ماته وګوره"

ما هغې ته په غور وکاتهٔ او اومې لیدل چې هغه سترګې چې یو څو ورځې وړاندې لکه د شونډو خندنۍ وې او لکه د بلبل د وزرو خوزېدلې اوس کوغالو ته وربرېوتې وې او درد او خپګان پکښې غرېدۀ. د هغې مخ چې د غوړېدونکې زېنک په مثال وۀ اوس زېړ زبېښلې وۀ. د هغې خوږې شونډې داسې ښکارېدې لکه خزان چې دوه مړاوي ګلاب په خپل ډنډر پرېښودي وي. د هغې سپینه دنګه نرۍ غاړه مخې ته داسې راتیټه شوې وه لکه چې په سر کښې د موجود غم وزن ئې د زغم نه وتې وۀ.

ما د سلمٰی په مخ کښې دا ټول بدلونونه ولیدۀ خو دا زما د پاره داسې وه لکه یوه خغلنده وربخ چې د سپوږمۍ مخ پټ کړي او هغه لاښکلې کړي. یو داسې نظر چې د داخلي خپګان اظهار کوي. کۀ هر څو مره درد بدلې او د المیو نه ډک وي خو بیا هم د مخ ښائست لا زیاتوي. ولې هغه مخ چې د خاموشۍ په ژبه خپل پټ غمونه نۀ بیانوي کۀ رغونه ئې هر څنګه وي خو ښکلې نۀ ښکاري. پیالۍ ته تر هغه وخته زمونږ شونډې نۀ پسخېږي تر څو چې مو د روښانه ښیښې نه د شرابو رنګ نۀ وي لیدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمیٰ په دغه ماښام د ژوند د خوږو او ترخو نه ډکه د شرابو پیاله ښکار ېده. هغه د مشرقي ښځو یوه نمونه وه، څوک چې تر هغه وخته د مور او پلار کور نهٔ پرېږدي تر څو چې نې په خپل ځتې د خاوند جنغ نهٔ وي ایښودلے، تر هغه وخته د خپلې مور د مینه ناکې غېږې نه نهٔ بېلېږي تر څو چې د غلامۍ په زنځیرونو کښې نهٔ وي تړلې شوې او د خاوند د مور د ناکردو سره نهٔ وي مخامخ شوې.

ما تر هغه وخته سلمیٰ نه کاتهٔ او د هغې مړاوے روح مې اورېدهٔ چې په ما یو داسې ذهني کیفیت خور شهٔ چې وخت مې ولاړ محسوس کړهٔ او کائنات مې د سترګو نه ورک شهٔ. ما فقط د هغې هغه دوه اوږدې سترګې لیدلې کومو چې ما ته په ځیر ځیر کاتهٔ او صرف د هغې هغه یخ رپېدونکې لاسونه مې محسوسول کومو چې زما لاس نیولے وهٔ.

زهٔ د خپله خوبه د سلمیٰ د ټیټ اواز په دې خبره راښېدار شوم چې "زما جانانه راځه چې د بوږنوونکې راتلونکې وخت د راتلو نه وړاندې هم په دغه وخت خبرې اترې وکړو. زما پلار هم دغه اوس د هغه سړي د لیدو دپاره لاړهٔ چې تر مرګه پورې به زما د ژوند ملګرے وي. زما پلار چې خدائے پاک زما د هستۍ په غرض غوره کړے وهٔ، به د هغه سړي سره لیدل کتل کوي کوم چې دنیا زما د پاتې ژوند دپاره زما د خاوند په ډول خوښ کړے دے د دې ښار په زړهٔ کښې به هغه مشر سړے، چې زما د ځوانۍ په وخت کښې ئې زما ملګرتیا کړې ده، د هغه ځوان سړي سره ملاقات کوي، کوم چې به په راتلونکي وخت کښې زما ملګرے

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. نن شپه به دوا ړه کوونی د وادهٔ ښتهه ږدي. دا به څهٔ ناآشنا او اغیزناک وخت وي؛ تېره هفته هم په دې وخت او هم د دې یاسمین د بوټي لاندې مېنې په ږومبي خل زما روح په غېږ کښېږ ونیوهٔ. په داسې حال کښې چې هم په دغه وخت قسمت لګیا وهٔ. زما د ژوند د قیصې ږومبې تکې ئې د پادري په مانی کښې لیکهٔ. اوس دا وخت زما پلار او زما غوښتونکي زما د وادهٔ د ښتې تابیا کوي په داسې حال کښې چې زهٔ ستا روح وینم چې داسې په ناقرارۍ سره زما نه چاپېره چورلي لکه یو تږې مارغهٔ چې د اوبو په یوه داسې چینه ېېرونه خوري، چې قهرېدلې ښکاري ورته تویک په لاس ناست وي. دا شپه څومره پیاورې ده! او څومره د رمزنه ډکه ده!"

دا خبرې چې ما واورېدې نو داسې مې محسوس کړه لکه چې د مکملې مایوسۍ تور روح زموږ د مینې په مرۍ په کچه کښې غلې کېدونکې دې. ما هغې ته اووئیل چې "دغه مارغهٔ به تر هغه وخته د دغه چینې دپاسه ګرځي، تر څو چې تندې وژلې نهٔ وي او یا د ښکارې په پنجه کښې ورغلې نهٔ وي"

هغې په خواب کښې اووئیل چې "نه په ما ګرانه! پکار ده چې دا بلبل ژوندې وي او د تیارې د راتلو، د سپرلي د تېرېدو او د دې دنیا د پائې ته رسېدو پورې خپلې سندرې اووائي او تر ابده ئې خولهٔ ونهٔ دربېږي. د دې اواز خاموشول نهٔ دي پکار. ځکه چې دهٔ زما زړهٔ له ژوند راوړې دې. د دهٔ ځانګونه باید مات نهٔ شي ځکه چې د دوي حرکت زما د زړهٔ نه تیارې لیرې کوي"

بیا ما په ګونګوسي اووئیل چې "زما ګرانې سلمی! دا مارغهٔ تنده د کاره اوباسي او وېره به ئې مړ کړي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې سمدستي په رپېدونکو شونډو خواب راکړه چې "د روح تنده د مادي څيزونو د شرابو نه زياته خوندوره ده. همدارنګه د روح وېره د وجود د تحفظ د احساس نه زياته په زړه پورې ده خو زما جانانه دا مې واوره او په غور ئې واوره چې نن زه د يو داسې نوي ژوند په دروازه کښې ولاړه يم چې ماته ئې هېڅ معلومات نشته. زما مثال د هغه روند سړي دے چې د پرېوتو د وېرې لاس تپوي او ځي. زما د پلار دولت زه د غلامانو په بازار ايښودې يم او دې سړي پلورلې يم. زه نه هغه پېژنم او نه ورسره مينه لرم خو دا زما دپاره لازمي ده چې د هغه سره مينه کول زده کړم. همدارنګه زما دپاره د هغه اطاعت، خدمت او خوشحاله ساتل حتمي دي. زه به هغه له هر هغه څه ورکوم، کوم چې يوه کمزورې ښځه يو زورور سړي له ورکولے شي"

"خو زما جانانه! ته اوس هم ښه په جوبن کښې ئې. ته د ژوند په لار چې د ګلونو قالين ورباندې غوړېدلے دے، اوس هم ښه په ازاد مټ ګرځېدے شې. ته اوس هم د زړه په رڼا په دې ګرده نړۍ کښې د ګرځېدو جوګه ئې. ته په خپله خوښه سوچ، خبرې او عمل کولے شې. ته د ژوند په مخ خپل نوم ليکلے شې، څکه چې سړے ئې. ته د يو بادار(اقا) په ډول ژوند کولے شې څکه چې ستا د پلار دولت ته د غلامانو په بازار نه ئې ايښودے چې څوک دې وپېري يا وپلوري. ته د خپلې خوښې د جينۍ سره واده کولے شې او مخکښې د دې نه چې هغه ستا کور ته راشي، هغه په خپل زړه کښې اوسولے شې او بغېر د څه مشکل نه ورسره په يو بل باور يقيني کولے شې"

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ساعت خاموشي خوره شوه او بيا سلمی د خپلې خبرې په دوام اووئيل چې "آيا دا هغه وخت راغلے چې ما او تا د يو بل نه په دې غرض ببلوي چې ته د سړي دبدبه خپله کړې او زه د ښځې ذمه وارۍ په سر واخلم؟ آيا هم دا وجه ده چې د بلبلو چغار نه راخېژي. د ګل پاڼې هوا تس نس کړي دي او د شرابو پيالې خپل ارزښت دلاسه ور کړے دے؟ آيا د ياسمين د بوټي لاندې، چېرته چې زما او ستا روحونه يو بل ته غاړه وتي وو، د سپوږۍ په رڼا کښې تېرې کړې زمونږ تولې شپې بېکاره لاړې؟ آيا مونږ د ستورو په لور داسې تېز والوتو چې وزرې موسترې شوې او اوس مخ په ښکته د اوبو د ول (ګرداب) په لور راروان يو. راغورځېږو؟ يا آيا مينه هغه وخت اوده وه. څه وخت چې مونږ له راتله او کله چې راويښه شوه نو مونږ له ئې د سزا راکولو فېصله وکړه؟ يا آيا زمونږ روحونو د شپې نرمه هوا په داسې سيلۍ بدله کړه چې مونږ ئې ټوټې ټوټې کړو او په دې سيمه ئې لکه د ګرد اوشندلو؟ مونږ نه خو د خپلې وعدې خلاف ورزي کړې ده او نه مو شجر ممنوعه څکلې ده نو بيا په څه ګناه کښې د جنت نه ويستلے کېږو؟ مونږ نه خو د بغاوت منصوبه جوړه کړې ده او نه مو عملې کړې ده نو بيا ولې دوزخ ته لېږلے کېږو؟ نه نه هغه لحظې چې مونږ ئې را يوځائې کړي يو د پېړيو نه زياتې دي او هغه رڼا چې زمونږ روحونه ئې روښانه کړي دي، د تيارې نه زياته زوروره ده او که توپان مونږ د سمندر په دې شدله سينه جدا کوي نو څپې به مو په بې شوره ساحل باندې بېرته رايوځائې کړي او که دا ژوند مونږ مړه کړي نومرګ به مو بېرته د يو بل سره غاړه باسي. د ښځې زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت یا موسم سره نه بدلیږي، حتی که د تل دپاره مړ هم شي خو چیرې هم ښخي د مینځه نه ځي د ښځې زړه د هغه پتي په مثال وي چې د جنګ په میدان بدل شوے وي چې د ونو د بنیخ نه د وتلو، د وښو د سوزیدلو، د تیږو په وینو د رنګیدلو او په زمکه د هډوکو او کوپړو د کرنه وروسته داسې خاموشه غلے او چپ وي لکه چې هیڅ هم نه وي شوي. ځکه چې سپرلے او خزان په خپل خپل وار راځي او خپل خپل کار کوي

"زما جانانه! اوس به مونږ څه کوو. څنګه به بیلیږو او چیرته به لیدل کتل کوو؟ آیا مینه یو داسې ناآشنا میلمه وګڼو چې ماښام راغے او سحر په خپله مخه لاړه؟ یا داسې وګڼو چې دا محبت یو خوب وه چې په اودو راغے او په ویښه خپل منطقي انجام ته ورسیده؟ آیا مونږ دا هفته د بې هوشۍ یو ساعت وګڼو چې وروسته پسې هوش خپل ځائې ته راغے؟ زما جانانه! سر اوچت کړه چې زه درته سم وګورم، شونډې پرانیزه چې زه دې اواز واورم زما سره خبرې وکړه. کله چې دا توپان زمونږ د مینې کشتۍ نسکوره کړي نو ته به ما یاده ساتې؟ ته به د شپې په چپه چپتیا کښې زما د وزرو ښکالو اورې؟ زما روح چې ستا د سر دپاسه ځانګونه وهي نو ته به ئې محسوسوې؟ چې زما روح ستا د سر دپاسه ریپیږي نو ته به ئې اورې؟ زما اسویلي به اورې؟ زما سیورې چې د ماښام د تروږمۍ سره به راځي او د سباوُن د رڼا سره به ورومي، نو تا ته به ښکاري؟ ما ته اووایه زما جانانه! زما سترګو ته د جادوګرې پلوشې د جوړیدو نه وروسته به ته زما د غوږونو دپاره خوږه سندره او د روح دپاره وزرې جوړیږې؟ ما ته اووایه چې ستا نه به څه جوړیږي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې دا تکي واوریدل نو زړه مې نرے شۀ او هغې ته مې خواب ورکړۀ چې "زما ګرانې! زۀ به هغه څۀ جوړېږم څۀ چې رانه تۀ جوړول غواړې"

بيا هغې اوونيل چې "زۀ غواړم چې تۀ زما سره داسې مينه وکړې لکه څنګه چې شاعر د خپلو غمژنو فکرونو سره کوي. زۀ غواړم چې تۀ ما داسې ياده وساتې لکه يو مسافر چې هغه ولاړ ډنډ ياد ساتي چې د اوبو څښلو په وخت ئې پکښې خپل مخ ليدلے وي. زۀ غواړم چې تۀ ما داسې ياده وساتې لکه چې يوه مور هغه اولاد ياد ساتي چې د رڼا د ليدونه وړاندې د دې دنيا نه تللے وي او زۀ غواړم چې تۀ ما داسې ياده وساتې لکه يو زړۀ سواند ے بادشاه چې هغه قيدي ياد ساتي کوم چې د بخښنې (معافي) د رارسيدو نه وړاندې مړ شوے وي. زۀ غواړم چې تۀ زما ملګرے پاتې شې او زۀ غواړم چې تۀ زما د پلار سره خپل تلۀ راتلۀ جاري وساتې او هغۀ له په خپله تنهايي کښې دلاسه ورکړې ځکه چې زۀ ډيره زر د هغۀ نه روانه يم او بيا به د هغۀ دپاره ناآشنا شم"

ما هغې ته خواب ورکړۀ چې "تا چې څۀ اوونيل زۀ به هم دغسې کوم. د خپل روح نه به ستا د روح دپاره لفافه جوړه کړم. د خپل زړۀ نه به ستا د ښائست دپاره کور جوړ کړم او خپله سينه به ستا د دردونو په خاطر په اديره بدله کړم. زۀ به ستا سره داسې مينه کوم لکه څنګه چې ورشو (وښيانه) د سپرلي سره مينه کوي. ستا په ياد کښې به زما مثال د هغه ګل وي چې د لمر د پلوشو لاندې ژوند کوي. زۀ به ستا سندرې داسې وايم لکه چې د ګرجو د تليو اهنګ (پاڼ پېرې) سندرې وائي. زۀ به ستا د روح ژبه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورم لکه چې ساحل د څپو قیصه اوري. زهٔ به تا د اسې یاده ساتم څنګه چې یو مسافر خپل وطن، یو ورېږے سرے خوږه دودې، یو معزول بادشاه د خپلې دبدبې ورځې او یو قیدي د خپلې ازادۍ او ارام وختونه یاد ساتي. زهٔ به تا داسې یاده ساتم لکه چې یو کرونده ګرے په درمند کښې د غنمو ګېډۍ یادې ساتي او لکه څنګه چې یو شپونکے شنې ورشوګانې او خوږې ویالې یادې ساتي"

سلمٰی په درزېدونکي زړهٔ زما خبرې واورېدې او اوئې وئیل چې "سبا له به ربنتیا، د افسانې او د ویښې د خوب شکل ونیسي. کهٔ یو مئین د جانان په ځائې د هغهٔ خیال ته غاړه وځي او یا یو تږے د خوب په چینه خپله تنده ماتوي نو آیا په دې کښې به د اطمینان ګنجائش وي؟"

ما په خواب کښې اووئیل چې "سبا له به تقدیر تا د یوې امن ناکه کورنۍ په منځ کښې کښېنوي خو ما به د جنګ او مبارزې دنیا ته واستوي. تهٔ به د یو داسې سړي کور ته لاړه شې د چا قسمت چې هغه ستا د ښائست او عصمت په برکت نېک مرغه کړے دے. په داسې حال کښې چې زهٔ به د وېرې او کړاوونو ژوند ته پاتې شم. تهٔ به د ژوند په دروازه کښې پښه کېږدې او زهٔ به د مرګ په ورهٔ دننه شم. تا ته به هر کلے اووئیلے شي او زهٔ به یوازې پاتې شم خو زهٔ به د مرګ په سیمه کښې د مینې او عبادت یادګارونه جوړوم. مینه به زما یوازینۍ تسلي وي. زهٔ به مینه د شرابو غوندې څښم او لکه د جامو (کالیو) به ئې اغوندم. سحر وختې به مې مینه د خوبه پاځوي او لیرې پټو ته به مې بیائي. د غرمې به مې د ونو سیورې له وړي چېرته چې به زهٔ د مرغیو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځائې د لمر د تاو نه پټيږم. په ماښام کښې به ما تر لمر پريواته پورې په دې غرض ايساروي چې د فطرت د خولې نه د ورځې رڼا ته د "مخه ښه" سندره واورم او په اسمان کښې د ګرځيدونکو وريځو تماشه وکړم. د شپې به راسره مينه غاړه غټې کيږي او زۀ به د هغه جنتي دنيا په تصور کښې اوده کيږم چيرته چې د مئينانو او شاعرانو روحونه اوسيږي. د سپرلي په موسم کښې به د مينې سره ځنګ په ځنګ د ياسمين او چونيا (بنفشي) په ګلونو کښې ګرځم او د زينک په پيالو کښې به د ژمي د موسم پاتې څاڅکي څښنم. په اوړي کښې به د وچو وښو د ګيډيونه بالښتونه جوړوم او د شنو وښو نه به د بستر کار اخلم. شين اسمان به مې چت وي او سپوږمۍ او ستورو ته به په غور غور ګورم.

په خزان کښې به زۀ او مينه د انګورو باغونو ته ځو، هلته به د انګورو د شيرې د چاڼې ځوا ته کښېنو او د انګورو د لوخوشوو بېلانځو تماشه به کوو او د مرغيو بېرته تلونکي سېلونه به مو د سر دپاسه اوري. په ژمي کښې به د اور په غاړه کښېنو او زړې قيصې او د ليرې ملکونو تاريخونه به بيانوو. په ځوانۍ کښې به مينه زما استاذ وي، په مېنځني عمر کښې به مې پشتي وي او په پيرۍ کښې به مې د زړۀ خوشحالي وي. زما ګرانې سلمیٰ! مينه به زما د ژوند تر اخيري وخته زما سره وي او د مرګ نه پس به مونږ خدائے پاک بيا را يوځائې کوي"

دا ټولې خبرې زما د زړۀ نه داسې راوتې لکه د اور لمبې چې د بخارۍ (د دېوال انغرے) نه لمغرې کوي او بيا په ايرو بدلې شي. سلمیٰ ژړل او داسې ښکاريده لکه چې اوښکو ئې د شونډو پر څائې ما له ځواب راکاوۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاله چې مینې وزرې نه وي ور کړې، د ظاهر د ورېښو نه اخوا الوت نه شي کولے او هغه طلسماتي دنیا نه شي لیدلے چېرته چې په دغه خپګان کښې لړلي خوشحاله وخت کښې زما او سلمٰی روحونه یو ځائې اوسېدل هغه ځوک چې مینې د مریدئ دپاره نه وي غوره کړې. د مینې اواز ئې تر غوږ نه رسي. دا داستان د دغه قسمه خلکو دپاره نه دے. حتیٰ که هغوي د دې پاڼو په معنی پوه هم شي خو بیا هم د دې جوګه کېدے نه شي چې په هغه تتو اشارو ورسي کومو ته چې د لفظونو جامه نه ده اغوستولې شوې او د کاغذ په مخ نه دي ثبت شوي خو څه به هغه سړے وي چې د مینې د پیالې د شرابو نه ئې ګوټ نه وي کړے او څه به هغه روح وي چې د هغه ګرجې د روښانه ممبر په وړاندې په احترام نه وي ودرېدلے، د کوم فرش چې د ښځو اونرانو د زړونو اوچت د خوبونو د پوښلي سائبان نه جوړ دے. هغه به څه ګل وي چې په پاڼو ئې د سباوُن پرخه نه وي پرېوتې. هغه به څه ویاله وي چې سمندر ته د تلو نه وړاندې ئې خپله لار ورکه کړې وي.

سلمٰی خپل مخ د اسمان په لور وګرځاوۀ او ستورو ته ئې په غور غور وکاتۀ. هغې خپل لاسونه خوارۀ کړل، سترګې ئې پورته وا شوې او شونډې ئې ورېږدې. د هغې په زېړ مخ د خپګان، بې وسئ، نااميدئ او درد نخښې نخښانې په ډاګه ښکارېدې "اے خدایه! ښځو څۀ چل کړے دے چې ته ورباندې قهرېدلے ئې؟ هغوي کومه ګناه کړې ده چې تا د دې سزا وړ ګرځولي دي؟ هغوي دې په کوم جرم کښې د دې ابدي سزا سره مخ کړې دي؟! اے خدایه! تۀ زورور او زۀ ناتوانه. زۀ دې ولې په درد اخته کړې یم. تۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوئي هم ئې او په شر تول پوزه هم او زما حېثيت د يو وړوکي او کمزوري مخلوق دے چې ستا د تخت په وړاندې تغرېږي تا زۀ ولې د پښو لاندې چقولې يم؟ستا مثال د توپان دے او زۀ داسې يم لکه دوړه. تا زۀ ولې په يخه زمکه راچولې يم؟ تۀ زورور ئې او زۀ بې وسه. تۀ زما سره ولې په جنګ ئې؟ تۀ پام لرونکے ئې او زۀ احتياطي يمه. تۀ ولې زما په بربادۍ پسې شوے ئې؟ تا د ښځې په زړۀ کښې د مينې ډک زړۀ ايښودے دے نو بيا ئې ولې د مينې په لاس نيست نابود کوې؟ تۀ هغه په خپل ښي لاس را اوچته وې او په کيڼ لاس ئې ژورې ته غورځوې او هغې ته دا پته هم نشته چې دا ولې؟ تۀ هم د هغې په خوله کښې د ژوند ساه پوک وهې او هم ئې په زړۀ کښې د مرګ تخم نولې. هم ورته د خوشحالۍ لاز په ګوته کوې او هم ئې د خفګان په سړک بيائې. تا د هغې په خوله کښې د خوشحالۍ سندره ايښودې ده خو شونډې دې ورله د خفګان او ژبه د زړۀ د زحې عذاب په تار ګنډلې ده. تا د خپل رمز په ګوتو د هغې په زخمونو پټۍ ايښودې دي او هم په خپلو لاسو دې د هغې د خوشالئيو نه چاپېره د درد وېره خوره کړې ده. د هغې په بستر کښې دې خوشحالي او سکون پټ کړۀ خو خوا ته دې ورته خنداان او وېره ودرول. په خپله خوښه دې د هغې په زړۀ کښې محبت وتېښناوۀ او بيا دې د هغې د محبت نه شرم پيدا کړۀ. په خپله خوښه دې هغې ته د تخليق ښائست وښودۀ خو د ښائست سره د هغې مينه يوه هېبتناکه لوړه جوړه شوه. تۀ هغې ته د ژوند اوبۀ د مرګ په پياله کښې او د مرګ زهر د ژوند په کنډولي کښې ورکوې. تۀ هغه په اوښکو پاکوې او هم په دغه اوښکو کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ژوند لاهو کوي. اے خدایه! تا د مینې په ګوتو زما سترګې پرانستې او هم په مینه دې ړنده کړم. تا په خپلو شونډو ښکل کړم او هم په خپلو ګلګو لاسونو دې ووهلم. تا زما په زړه کښې سپین ګلاب کرلے دے خو چاپېره دې ترې د ازغیو شپول کړے دے. تا زما موجوده مهال د یو داسې ځوان سره تړلے دے چې زۀ ورسره مینه لرم خو زما ژوند دې د یو داسې سړي سره غوټه کړے دے چې د هغۀ وجود زما دپاره ناآشنا دے نو اے خدایه! تۀ اوس دومره توان راکړه چې په دې سخت امتحان کښې پاتې رانۀ شم او تر مرګه پورې رښتینې او سپېڅلې پاتې شم. اے خدایه! تۀ چې څۀ غواړې هغه کېږي.

خاموشي په یو جوړ خوره وه. سلمی ښکته کاتۀ، زېړه او ناتوانه ښکارېده. د هغې لاسونه ښکته راپرېوتل او سر ئې مخې خوا ته راکوږ شۀ او ماته داسې ښکاره شوه لکه توپان چې د ونې یو ښاخ رامات کړي او د وچېدو او بالاخره ببخې ختمېدو دپاره په زمکه پرېوځي

ما د هغې یخ لاس ونیوۀ او ښکل مې کړۀ خو کله چې مې هغې له د دلاسې ورکولو نیت وکړۀ نو د هغې نه زیات مې خپل ځان د داډ محتاج محسوس کړۀ. زۀ زمونږ د بدې ورځې په سوچ او د خپل زړۀ د درزا په شور کښې غلے پاتې شوم. د دې نه پس نۀ ما څۀ اووئیل او نۀ هغې.

د حده وتے عذاب تل ګونګے وي او څکه مونږ غلي کښېناستو. داسې کانړي رانه جوړ شو لکه د ماربلو ستنې چې د زلزلې د شګو لاندې پټې شي. نۀ ما هغه اورېدل غوښتل او نۀ هغې زۀ. څکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د زړونو تارونه کمزوري شوي وو او تش د ساه په اخستو ئې هم د شلېدو وېره وه.

دا د نيمې شپې مهال وۀ او مونږ ليدل چې سپوږمۍ د سنين د غرۀ د شا نه راوختـه او د ستورو په مېنځ کښې داسې ښکارېده لکه د مړي مخ چې په کفن کښې د مومبتو د تتو رڼاګانو په مېنځ کښې ښکاري او لبنان داسې ښکارېدۀ لکه يو بوډا سړے چې ملا ئې د زړښت دلاسه راټيټه شوې وي او سترګې ئې د بې خوبۍ بندې وي. د تيارو ننداره کوي او د سباؤن په انتظار وي يا لکه يو بادشاه چې د خپل محل د کنډر د پاسه د خپل تخت په ايرو ناست وي.

غرونه، ونې او سيندونه د وختونو او موسمونو د بدلون سره خپل شکل داسې بدلوي لکه چې سړے د خپلو تجربو او جذبو سره بدلېږي. هسک سپېدار د ورځې په رڼا کښې لکه د ناوې غونډې ښکاري خو په ماښام کښې د لوګي د يوې ستنې شکل اختيار کړي. هغه لونې ګټ چې د غرمې په وخت کښې د هر زورور او مغروره ښکاري. د شپې په مهال کښې د هغه درد ډېدلي غريب سړي په مثال شي چې د لاندې زمکې او پاس اسمان نه اخوا نور هېڅ هم نۀ لري. هغه ويالـه چې سحر ځلانده وي او د ابديت سندرې وائي، په ماښام کښې د اوښکو په رود بدلـه شي او داسې ژړا شروع کړي لکه يوه مور چې د خپل مړ بچي په سر وير کوي او هغه لبنان چې يوه هفته اوونۍ، وړاندې چې سپوږمۍ پوره وه او زمونږ روحونه خوشحاله وو. د لوئي شان و شوکت لرونکے وۀ، په دغه شپه غمژن او بې رونقه ښکارېدۀ.

مونږ راپاڅېدو او يو بل ته مو په مخه ښـه اووئيل خو مينه او نااميدي زمونږ په مېنځ کښې لکه د دوو اروا ګانو ودرېدل. يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د زړونو تارونه کمزوري شوي وو او تش د ساه په اخستو ئي هم د شلېدو وېره وه

دا د نیمې شپې مهال وه او موږ لیدل چې سپوږمۍ د سنین د غرۀ د شا نه راوختنه او د ستورو په مېنځ کښې داسې ښکارېده لکه د مړي مخ چې په کفن کښې د مومبتو د تتو رڼاګانو په مېنځ کښې ښکاري او لبنان داسې ښکارېدۀ لکه یو بوډا سړے چې ملا ئې د زړښت دلاسه راټیټه شوې وي او سترګې ئې د بې خوبۍ بندر وي. د تیارو ننداره کوي او د سباؤن په انتظار وي یا لکه یو بادشاه چې د خپل محل د کنډر د پاسه د خپل تخت په ایرو ناست وي

غرونه، ونې او سیندونه د وختونو او موسمونو د بدلون سره خپل شکل داسې بدلوي لکه چې سړے د خپلو تجربو او جذبو سره بدلېږي هسک سپیدار د ورځې په رڼا کښې لکه د ناوې غوندې ښکاري خو په ماښام کښې د لوګي د یوې ستنې شکل اختیار کړي هغه لوئې ګټ چې د غرمې په وخت کښې د هر زورور او مغروره ښکاري. د شپې په مهال کښې د هغه درد بدلي غریب سړي په مثال شي چې د لاندې زمکې او پاس اسمان نه اخوا نور هیڅ هم نه لري هغه ویاله چې سحر ځلانده وي او د ابدیت سندرې وائي، په ماښام کښې د اوښکو په رود بدله شي او داسې ژړا شروع کړي لکه یوه مور چې د خپل مړ بچي په سر وير کوي او هغه لبنان چې یوه هفته اوونۍ) وړاندې چې سپوږمۍ پوره وه او زموږ روحونه خوشحاله وو. د لوئې شان و شوکت لرونکے وۀ، په دغه شپه غمژن او بې رونقه ښکارېده.

موږ راپاڅېدو او یو بل ته مو په مخه ښه اووئیل خو مینه او نااميدي زموږ په مېنځ کښې لکه د دوو اروا ګانو ودرېدل. یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د غاړو نه په خپلو ګوتو خپلې وزرې تاوهلې، يوې ژړل او بلې پټ پټ خندل.

کله چې ما د سلمىٰ لاس ونيوۀ او خپلو شونډو له مې يوړۀ نو هغه ماته رانژدې شوه او زما تندے ئې ښکل کړۀ. بيا د لرګي په ښېنچ ورپرېوته، هغې سترګې پټې کړې او د ځان سره ئې په ټيټ اواز اووئيل چې "اے لويه خدايه! په ما رحم وکړه او زما مات ځانګونه پېوند کړه".

ما چې سلمىٰ په باغ کښې پرېښوده نو داسې مې محسوسه کړه لکه چې زما په حسونو باندې داسې پرده خوره شوې وي لکه چې د يو لوئې ډنډ مخ په لړه کښې پټ وي.

د ونو ښائست د سپوږمۍ رڼا، ژوره خاموشي زما خواته هر څيز خوفناک او بدرنګه ښکارېدۀ. هغه رښتينې رڼا چې ما ته ئې د کائناتو حسن او معجزه راښودلې وو، د اور په يو داسې شغله بدله شوه چې زما زړۀ ئې داغ کړۀ او د هغه ابدي ساز نه چې زۀ ئې د اورېدو بلد وم. يو داسې شور جوړ شۀ چې د زمرې د غړمبا نه زيات وېرونکے وۀ.

زۀ خپلې کوټې ته راورسېدم او لکه د ښکارې ويشتلې ژوبلې مرغۍ په خپل کټ کښې پرېوتم. په ذهن کښې مې د سلمىٰ دا تکې ګرځېدل چې "اے خدايه! په ما رحم وکړه او زما مات ځانګونه پېوند کړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرګ د تخت په وړاندې

نن سبا د وادهٔ نه داسې توقې جوړې شوې دي چې بندوبست ئې د ځوانانو او د هغوي د مور او پلار په لاس کښې دے. په زیاتو هېوادونو کښې د ځوانانو لاس برپاتې شي او مور او پلار پاتې راشي. ښځې ذات ته د تجارت د مال په نظر کتلے شي چې پلورل کېږي او د یو کور نه بل کور ته وړلے شي. د وخت د تېرېدو سره د هغې ښائست ختم شي او په یو تیارهٔ ګوټ کښې لکه د فرنیچر د یو زوړ توکي وغور ځولے شي

جدید تمدن ښځې له یو څهٔ پوهه ورکړې ده خو د نارینا و د وړستر ګتوب د کبله ئې د هغې درد لا زیات کړے دے. د پرون ښځه یوه خوشحاله مېرمن وه خو د نن ښځهٔ یوه غمژنه معشوقه (Mistress) ده. په تېر وخت کښې هغه په پټو سترګو په رڼا کښې ګرځېده او اوس په غړېدلو سترګو په تیارهٔ کښې ګرځي. هغه په خپله بې سوادی کښې ښائسته، په سادګی کښې سپېځلې او د خپلې کمزوری باوجود زوروره وه. نن هغه خپلې زېرکی، بدرنګه او خپلې پوهې سطحې او بې زړهٔ کړې ده. داسې ورځ به هم چېرې راشي چې په ښځه کښې ښائست، پوهه، زیرکي او سپېځلتیا، د وجود کمزوري او د روح زوروړتیا په ګډه وجود ولري!

زهٔ په هغه خلکو کښې شمار یم څوک چې دا عقیده لري چې روحاني وده د انساني ژوند د تګ لاره ده خو تکامل ته رسېدل ئې د قلارې او زړهٔ چاودون کار دے. کهٔ چېرې ښځه یو خوا مخ په بره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپې او بل خوا مېخ په ښکته راغونډېږي نو د دې وجه دا ده چې چېرته هم د غرۀ سرته شو له لاره تلې وي نو هلته د غلو کمینګاهونه او د شرمښانو تاڼوبي هم ارو مرو موجود وي.

دا ناآشنا نسل د بېدارۍ او خوب تر مېنځ ژوند کوي. د دۀ په لاس کښې د تېر وخت خاوره هم ده او د راتلونکي وخت تخم هم خو بیا هم په هر ښار کښې مونږ یوه ښځه نیمه داسې وینو چې د راتلونکي وخت نمونه ورته وئیلے شو.

د بېروت په ښار کښې سلمیٰ کرامي د راتلونکي وخت د مشرقي ښځو یوه نمونه وه خو د نورو ډېرو هغه کسانو غوندې، ځوک چې د خپل وخت نه وړاندې پېدا وي، هغه هم د موجوده وخت ښکار شوه او د مېدان بایللو خلکو په ډله کښې داسې روانه شوه لکه د دریاب ځپه چې ګل د خپل ډنډر نه وشوکوي او لاهو ئې کړي.

منصور او سلمیٰ وادۀ وکړۀ او د ښار په هغه ځائې کښې په یوه ښکلې بنګله کښې دېره شو چېرته چې ټول شتمن او د حېثیت خاوندان اوسېږي. فارس افندي د خپل خوشي کور په باغ او بڼ کښې داسې یوازې پاتې شۀ لکه چې یو شپونکے د خپل کنډک په مېنځ کښې یوازې ژوند تېروي.

د وادۀ ورځې او خوشحاله شپې تېرې شوې خو هنې مون د خېګان د ترخو وختونو یادونه داسې پرېښودل لکه چې جنګ په مېدان کښې کوېږي او مړۀ هډوکي پرېږدي. د مشرقي ودونو دستورې د ځوانانو او پېغلو زړونه دې موقعې ته پسخوي خو د وادۀ پائې شاید دغه زړونه لکه د ژرندې د پل د سمندر بېخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغورځوي. د دوې د غه خوشحالي د ښځو د هغه خاپونو په مثال وي چې د شګو د پاسه جوړ شوي وي او صرف تر هغه وخته موجود وي تر څو چې څپو وران کړي نه وي.

سپرلے تېر شۀ او همدارنګه اوړے او منے هم ورپسې واوړېدل خو زما مينه د سلمٰی سره ورځ په ورځ زياتېده. عن چې په يو بې زبانه عبارت بدله شوه او يو داسې احساس ترې جوړ شۀ کوم چې يو يتيم په جنت کښې د خپلې مور د روح په حواله لري. زما د ارمان نه يو روند خپګان جوړ شۀ چې د خپل ځان نه اخوا ورته نور هېڅ هم په نظر نۀ راتلۀ او هغه جذبه چې زما د سترګو نه به ئې اوښکې راکښلې، په يوه داسې سرګرداني بدله شوه چې زما د زړۀ وينې ئې څښلې او زما د محبت اسوېلے د سلمٰی او د هغې د خاوند دپاره د راحتونو په دعا بدل شۀ. زما اميدونه او دعاګانې بې ځايه وې ځکه چې د سلمٰی غمژنې يو داخلي رنځ وۀ چې علاج ئې صرف مرګ کولے شۀ.

منصور داسې سړے وۀ چې د ژوند هره عياشي ئې په اسانه کولے شوه خو بيا هم هغه قانع نۀ وۀ او په بوده پسې وۀ. د سلمٰی سره د وادۀ نه وروسته هغۀ د هغې د پلار تنهايي. ته هېڅ توجه ورنۀ کړه او د هغۀ د دولت د ميراث حاصلولو دپاره د هغۀ مرګ ته لېواله وۀ.

د منصور کردار د هغۀ د تره کېردار ته ورته وۀ. په دواړو کښې بس دومره قدرې فرق وۀ چې پادري چې څۀ غوښتل هغه ئې د مذهبي قبا او د غاړې د طلايي صليب لاندې په پټه حاصل کړل. په داسې حال کښې چې ورارۀ ئې هر څۀ په ډاګه وکړل. پادري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر کېښې ګرجې ته تلو او پاتې ورځ ئې د کونډو، يتيمانو او ساده خلکو په لوټلو کښې تېرولـه خو منصور ورځې د جنسي تندي د ماتولو په لټون کښې تېرولې. د اتوار په ورځ پادري د انجيل مقدس تبليغ کاوه خو په نورو ورځو کښې ئې خپل ژوند په عملي توګه د دغه تبليغ مطابق نه تېراوه او د خواوشا علاقې په سياسي سازشونو کښې به بوخت وه او منصور د خپل ترهٔ د لوړ مقام په استفاده هر هغه چاته د سياسي ګټې رسولو دنده کوله چا چې مناسب رشوت ورکولے شو.

پادري هغه غل وه چې د شپې په تيارهٔ کښې ئې خان پټ کړے وه حال دا چې منصور هغه ټګ وه چې د ورځې په رڼا کښې هسکه غاړه ګرځېده. دا يو حقيقت دے چې مشرقي قومونه هم په دغسې شرمښانو او قصابانو باور کوي، حوک چې د خپل وړستر ګتوب د کبله د هغوي هېوادونه تباه کوي او کونډيان ئې په بې دردۍ سره چقوي.

زهٔ دا پانې د غريبو قومونو د غدارانو په تذکره ولې ډکوم. زهٔ دا خائې د هغهٔ غمژنې ښځې قيصې له ولې نهٔ ورکوم چې زړهٔ ئې مات شوے وهٔ؟ زهٔ مظلوم خلک ولې ژاړم. خپلې اوښکې د هغه کمزورې ښځې په ياد کښې ولې نهٔ تويوم. د چا ژوند چې د مرګ لاس تروړلے دے؟

خو زما خوږو لوستونکو! ولې تاسو ته پته نشته چې دغسې ښځه د هغه قوم په مثال وي چې پادريانو او واکدارانو په خپله پنجه کښې نيولې وي؟ تاسو په دې يقين نهٔ ساتئ چې هغه نيمګړې مينه کومه چې يوه ښځه قبر ته راکاږي، د هغه نااميدۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مثال ده چې د زمکې په خلکو کښې نفوذ کوي؟ د يو قوم د پاره د يوې ښځې اهميت هم دومره دے، څومره چې د ډېوې د پاره د رڼا بللے شي کۀ چېرې په ډېوه کښې تېل کم وي نو آيا رڼا به ئې تته نۀ وي؟

منے تېر شۀ او ژمي ته د لار پاکولو د پاره سيلۍ د ونو زېړې پاڼې والوزولې او بالاخره ژمے د خپلو نعرو سورو سره راورسېدۀ. زۀ لاهغسې د بېروت په ښار کښې پروت وم. د خپلو هغه خوبونو نه سېوا راسره نور هېڅوک نۀ وو کومو چې به زما روح اسمان ته خېژاوۀ او بيا به ئې د زمکې په سينه کښې ژور ښخاوۀ.

دردمند روح په تنهايۍ کښې يو څۀ ارام مومي او نور خلک د تنهايۍ نه داسې وېرېږي لکه زخمي هوسۍ چې د رمې نه بېله شي او تر هغې په غار کښې اوسي تر څو چې روغه يا مړه شي.

يوه ورځ ما ته پته ولګېده چې فارس افندي ناروغه دے. زۀ د خپل تنها کور نه د هغۀ کور ته روان شوم. دا خل د بګيو د کړپ کړوپ نه د ځان ژغورلو په خاطر زۀ په يوه نوې شاړه لار، چې د زېتون د ونو په مېنځ کښې تللې وه، لاړم.

زۀ چې د دې بوډا سړي کور ته ورغلم نو هغه په کټ کښې رنګ الوتے بې مجاله پروت وۀ. د هغۀ سترګې کوغالو ته داسې ورېرېوتې وې لکه دوه ژورې تيارۀ سيمې چې د درد مغلو وهلې وي. هغه مسکا چې د هغۀ د مخ نور وۀ د درد او زړۀ چاودون په موتې کښې ورغلې وه او د هغۀ د نرمو لاسونو هډوکي داسې وو لکه د سيلۍ د توپان په وړاندې رېبدونکي لوخ ښاخونه. زۀ چې د هغۀ خواله ورغلم او د روغ جوړ تپوس مې ترې وکړۀ نو هغۀ خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبر مخ ماته راوګرځاوۀ، په رپېدونکو شونډو ئې مسکا خوره شوه او په ټيټ اواز ئې اووئيل چې "زويه! دغه بلې کوټې ته لاړ شه، سلمٰی له دلاسه ورکړه او رائې وله چې زما د کټ په څنګ کښې کښېني"

زۀ چې پېوست کوټې ته ورغلم نو سلمٰی په يو ديوان ملاسته وه په لاسونو ئې سر پټ کړے وۀ او مخ ئې د دې دپاره په بالښت کښې دننه کړے وۀ چې پلار ئې اواز وانۀ وري. زۀ ورو ورو خواله ورغلم او د هغې نوم مې په داسې اواز کښې واخستۀ چې د ګونګوسې نه زيات اسوېلي ته نزدې وۀ. هغه داسې په ويره راپورته شوه لکه په يو خوفناک خوب کښې چې ئې خلل راغلے وي. کښېناسته او ماته ئې داسې په يو جوړ وکاتۀ لکه چې په زړۀ کښې ئې دا شک ګرځېدۀ چې زۀ ژوند ے وجود يم او کۀ اروا. د هغه ژورې خاموشۍ نه وروسته چې مونږ دواړه ئې د يادونو په وزرو هغه وخت له يوړو کله چې مونږ د مينې په شرابو نشه وو. سلمٰی خپلې اوښکې وچې کړې او اوئې وئيل چې "تۀ ګوره، وخت مونږ څنګه بدل کړي يو! تۀ ګوره وخت څنګه زمونږ د ژوند لارې بدلې کړې دي او مونږ ئې په دې کنډرو باندې پرېښي يو. هم په دې ځائې کښې سپرلي مونږ د مينې په تار تړلي وو او نن ئې هم دلته د مرګ د تخت په وړاندې يو ځائې کښېنودي يو. هغه سپرلي خومره ښکلي وو او دا ژمے خومره بدرنګه دے."

د دې وېنا سره هغې بيا خپل مخ په لاسونو پټ کړۀ. داسې ښکارېده لکه چې د تېر وخت د هغه منظر نه ښترګې پټوي کوم چې د هغې مخې ته ولاړ وۀ. ما د هغې په سر لاس کېښودۀ او ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې اووئيل چې " راځه سلمٰی راځه چې د دې توپان په وړاندې لکه د کوټلو منارو کلک ودرېږو. راځه چې لکه د نرانو سپايانو په ويښتلې سينه د دښمن د وسلې مقابله وکړو. کۀ چېرې ووژلے شو نو شهيدان به شو او کۀ چېرې دا جنګ مو وګټۀ نو د اتلانو ژوند به بيا مومو. په خاموشۍ کښې د پناه اخستو نه دا غوره ده چې سړے د لارې د خنډانو او ستونځو مقابله په نره وکړي. هغه پتنګ چې د ډېوې نه تاوېږي او مړ شي د هغه مورېک نه ښۀ دے چې په تيارۀ سوړه کښې ژوند کوي. راځه سلمٰی چې په دې شډله لار د زړۀ د تله روان شو او خپلې سترګې په دې غرض د اسمان په لور ونيسو چې په تږو او جاړو کښې کوږې، او ماران نۀ وينو. کۀ چېرې وېره مو په نيمه لار کښې ودروي نو د شپې اوازونه به پېغور راکوي خو کۀ چېرې په نره د غرۀ سرته ورسو نو د جنتي روحونو سره به د خوشحالۍ او برې په سندرو کښې شريک شو. سلمٰی خپګان مۀ کوه، اوښکې وچې کړه او د مخ نه دې د خواشينۍ پرده لرې کړه او راپاځه چې ورشو او ستا د پلار د کټ څنګ ته کښېنو، ځکه چې د هغۀ ژوند ستا په ژوند تکيه لري او کۀ د رنځ څۀ دارو ئې شته نو هغه ستا خندا ده".

هغې ماته په زړۀ سواندي او مينه ناک نظر وکاتۀ او اوئې وئيل چې "آيا تۀ ماته د لاسه راکوې په داسې حال کښې چې تا ته پخپله د ډاډګېرنې ضرورت دے. آيا يو وږے سړے خپله ډوډۍ بل وږي له ورکولے شي. يا ايا يو رنځور خپل هغه دارو بل رنځور له ورکولے شي په کومو چې هغه پخپله ژوندے وي" هغه راپاڅېده او په زوړند سر زما سره د دغه مشر سړي کوټې ته لاړه. مونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغهٔ د کټ په څنګ کښې کښېناستو. د دې دپاره چې د پلار نظر وربانديې خوږ شي. سلمی خان مسکی، مسکی کړهٔ د هغې پلار هم دا غوښتهٔ چې هغې ته نسبتاً ښهٔ او قوي په نظر راشي خو بیا هم پلار او لور د یو بل د درد نه خبر وو او د یو بل بې اوازه اسویلي ئې اورېدل. هغوي دواړه دوه داسې مساوي قوتونه وو چې یو بل ئې په چپه خولهٔ د مېنځه وړهٔ. د پلار زړهٔ د خپلې لور د غمه شین وهٔ، هغوي دوه هغه پاک روحونه وو چې په مینه او مرګ یو بل ته غاړه وتل. یو روان وهٔ او بل د غمه سرګردان وهٔ او زهٔ پخپله د خپل ناقلاره زړهٔ سره د هغوي په مېنځ کښې ولاړ وم. مونږ درې کسان وو چې تقدير را يو ځائې کړي هم وو او اوړهٔ اوړهٔ کړي هم. يو دغه مشر سړے وهٔ چې مثال ئې د سېلاب وړي انګړ وهٔ، يوه دغه ځوانه ښځه وه چې د يو داسې زينګ په مثال وه چې سر ئې په تېرهٔ لور رېبلے شوے وهٔ او بل دا ځوان سړے چې د يو داسې نازک نوي راختلي بوټي په مثال وهٔ چې د واورو د لاسه راتيټ شوے وي. په اصل کښې مونږ ټول د تقدير په لاس کښې د لوبو ګوډاګي وو.

فارس افندي ورو ورو وخوزېدهٔ، خپل ناتوانه لاسونه ئې د سلمی په لور اوږدهٔ کړل او په مینه ناک او نرم اواز ئې اووئيل چې "ما ښهٔ پوره ژوند کړے دے او د ژوند د موسمونو د مېوو نه مې خوند اخستے دے. ما د ژوند ټولې مرحلې د فکري هم آهنګۍ سره تېرې کړې دي. کله چې تهٔ د درې کالو وې نو ستا مور مړه شوه او تهٔ ئې زما په غولۍ کښې يوه قيمتي خزانه پرېښودې. تهٔ ورو ورو زما د نظر لاندې لوئېدې او په مخ کښې دې د مور د کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړو اثار داسې رابښکاره کېدل لکه چې د اوبو په ډنډ کښې ستورې ښکاري. ستا کردار، ذهانت او ښائست حتیٰ چې د خبرو او ناستې پاستې انداز هم مور ته تللې دے. ته زما د ژوند بوازینې تسلي وې ځکه چې ستا په کردار او ګفتار کښې د مور عکس وۀ. زۀ اوس بوډا شوے يم او زما دپاره صرف يو ځائې پاتې دے چې هغه د مرګ د نرمو وزرو د مېنځ نه عبارت دے. زما خوږې لورې! خپه کېږه مۀ. ما له مرګ دومره مهلت راکړۀ چې تۀ مې د يوې وادۀ شوې ښځې په رنګ کښې ولېدې، خوشحاله اوسه ځکه چې زۀ به د مرګ نه پس هم ستا په شکل کښې ژوند يم. زۀ کۀ نن ستا نه بېل شم نو دا به د سبا يا بل سبا په نسبت څۀ خاص فرق نۀ اچوي، ځکه چې زمونږ د ژوند ورځې لکه د خزان د پاڼو غوندې رواني دي، ختمېږي. زما د مرګ ساعت ډېر په تېزئ راروان دے او زما روح دې ته لېوالہ دے چې ستا د مور د روح سره يو ځائې شي"

هغۀ چې کله په مينه او خوږ انداز کښې دا خبرې کولې نو مخ ئې روڼ وۀ. بيا ئې لاس د بالښت لاندې دننه کړۀ او يو تصوير ئې راواخست چې د سرو زرو په چوکاټ کښې بند وۀ. دې وړوکي تصوير ته ئې کتل او اوئې وئيل چې" راشه سلمیٰ راشه خپله مور په دې تصوير کښې اووينه!".

سلمیٰ خپلې اوښکې وچې کړې. ډېر ساعت په خير خير د کتلو نه وروسته ئې دغه تصوير بيا بيا ښکل کړۀ او چغې ئې کړې" اے زما ګرانې مورې، اے مورې!" بيا هغې خپلې ريبدونکې شونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تصویر داسې ښکاري لکه چې خپل روح ئې ورته ور اړول غوښتل.

"مور" د انسان په شونډو د ټولو نه ښکلې ټکې ده او "اے موري" د ټولو نه ښکلې غږ دے. دا داسې ټکے دے چې د مینې او امید نه ډک دے، خوږ دے، زړه سواندے دے او د زړه له تله راخیژي. "مور" هر هر څه دي هغه په غم کښې تسلي ده، په خپګان کښې امید دے او په ناتوانئ کښې توان دے. هغه د مینې، شفقت، خواخوږئ، همدردئ او بخښنې سرچینه ده. څوک چې بې موره شي هغه د هغه پاک روح نه محروم شي چې هغه په تواتر سره خوشحاله ساتي او په نېغه لار ئې بيايي.

په دې دنيا کښې هر يو څيز د مور غوښتنه کوي. لمر د زمکې مور دے چې دې ته د تودوخې خوراک ورکوي او تر هغه وخته د کائنات نه نه بهر کېږي، تر څو چې ئې دا د سمندر په سندرو، د مرغيو او چينو په ثناء اوده کړې نه وي او دا زمکه د ونو او ګلونو مور ده. دا هغوي پېدا کوي. پالنه ئې کوي او بيا ئې د ټي نه پرېکوي. ونې او ګلونه بيا په خپل وار د خپلو مېوو او تخمونو مېندې جوړېږي او هغه مور چې د موجوداتو اصلي نمونه ده، ابدي روح دے چې د ښائست او مينې نه ډک دے.

د سلمٰی مور د هغې د خپارو په وخت کښې مړه وه نو ځکه ورسره هغه بلده نه وه خو چې کله ئې تصوير وليده نو چغې ئې کړې چې "اے موري!" دا ټکے "مور" زمونږ په زړونو کښې پټ وي خو چې کله ودرد هېرو يا خوشحاله شو نو زمونږ شونډو له داسې راشي لکه د ګلاب د زړه نه چې خوشبوئي رابهر کېږي او د پاکې او لوګړنې هوا سره ګډ ېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمٰی د مور تصویر ته په ځیر ځیر کاته او د پلار د کټ په څنګ کښې د راپرېوتو تر وخته پورې ئې بیا بیا ښکلاوه.

دې بوډا سړي خپل دواړه لاسونه د هغې په سر کېښودل او اوئې وئیل چې "زما لورې! ما تا ته د کاغذ په مخ ستا د مور تصویر وښودهٔ. اوس زهٔ غواړم چې تا ته د هغې خبرې واوروم".

هغې خپل سر داسې راپورته کړهٔ لکه د مرغۍ بچي چې په ځاله کې د مور د وزرو په محسوسولو سرونه را اوچتوي او هغهٔ ته متوجه شوه.

فارس افندي اووئیل چې "تهٔ دې د مور په خوا پورې وې چې د هغې پلار مړ شهٔ، هغې ډېر وژړل او کریکې ئې ووهلې خو بیا هم عقلمنده او صبرناکه وه څنګه چې ئې پلار ښخ شهٔ نو هغه هم په دې کوټه کښې زما خواته کښېناسته. زما لاس ئې ونیوهٔ او اوئې وئیل چې "فارسه! زما پلار مړ شهٔ او اوس په دې دنیا کښې تهٔ زما یوازینی تسلي پاتې ئې. د زړهٔ محبتونه داسې تقسیم وي لکه د نښتر د ونې ښاخونه. کهٔ چېرې د دې ونې یو ښاخ پرېوځي نو زیان ورته رسي خو بېخي د مېنځه نهٔ ځي. دا ونه بیا خپل ټول خوراک دغه بل پاتې ښاخ ته ورکوي. تر څو چې ښهٔ وده وکړي او دغه خالي ځائې ډک کړي. دا هغه خبرې وې چې ستا مور ماته د خپل پلار په مرګ کړې وې او کله چې مرګ زما وجود د خپل ارام ځائې ته یوسي او روح مې خدائے ته وسپاري نو تهٔ هم دغسې اووایه".

سلمٰی په مات زړهٔ په ژړا کښې ځواب ورکړهٔ چې "کله چې زما د مور پلار مړ شهٔ نو تهٔ د هغهٔ پر ځائې ودرېدې خو کله چې تهٔ لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي نوستا پر ځائې نه څوک ودرېږي؟ هغه د يو رښتيني او مينه ناک خاوند په اسره پاتې شوه. د هغې د تسلۍ دپاره د هغې ماشومه لور موجوده وه خوتهٔ چې لاړ شي نو زما د تسلۍ دپاره به څهٔ پاتې شي؟ تهٔ زما مور هم وې، پلار هم او د ځوانۍ ملګرے هم"

د دې وېنا سره هغې ماته مخ راوګرځاوهٔ. زما د جامو پلو ئې ونيوهٔ او اوئې وئيل چې "دا هغه يوازينے سړے دے چې ستا د تلو نه وروسته زما دوست ثابتېدے شئ خو چې هغه پخپله په بده ورځ دے نو ما له به څهٔ تسلي راکړي. يو مات زړهٔ په يو نااميده روح کښې څنګه ډاډ موندلے شي. نهٔ خو يوې غمژنې ښځې ته د خپل ګاونډي په غمژنۍ ارام راځي او نهٔ يوه مرغۍ په ماتو څانګونو الوت کولے شي. دے زما د روح دوست دے خو ما د وراندې نه د دهٔ په سر يو دروند پېټے ايښودے دے او په خپلو اوښکو مې د دهٔ سترګې داسې رنځورې کړې دي چې بې له تيارې ورته نور هېڅ هم په نظر نهٔ راځي. دے زما داسې ورور دے چې زهٔ ورسره د زړهٔ له تله مينه لرم خو دے هم لکه د نورو ورونړو زما سره صرف زما په دردونو کښې شريکېدے شي او زما په اوښکو تويولو کښې زما سره لاس کولے شي".

د سلمٰی دا تکي زما په زړهٔ لکه د تورې ولګېدل او ما داسې محسوسه کړه لکه چې نور زغم به اونهٔ کړے شم. دغه مشر سړي د هغې خبرې په مړ زړهٔ اورېدې او داسې رېبېدهٔ لکه د ډېوې رڼا چې د سيلۍ په وړاندې رېږي. بيا هغهٔ خپل لاس خوارهٔ کړل او اوئې وئيل چې "زما لورې! پرېږده چې ساه مې په قلاره وخېژي. ما د دې پنجرې سيخونه مات کړي دي. ما مهٔ منع کوه، پرېږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې والوځم، ځکه چې ستا مور ما ځان ته راغواړي. اسمان شين دے، سمندر خاموشه دے او کشتۍ تګ ته تياره ده. دا سفر مۀ ځنډوه. پرېږده چې زما وجود د هغه ځا سره ارام وکړي ځوک چې په ارام دي. پرېږده چې زما خوب پائې ته ورسي او روح مې د سباؤن سره يو ځائې رابېدار شي. پرېږده چې ستا روح زما روح ته ورترغاړه وځي او ما له د اميد مچه (بوسه) راکړي. پرېږده چې زما په وجود د غم او تريخوالي يو ځاځکے هم پرې نۀ وځي. ګڼې نو ګلونه او واښۀ به د زمکې نه خپل خوراک اخستل پرېږدي. زما په لاس د غم اوښکې مۀ څڅوه ځکه چې د دې نه به زما په قبر ازغي راوخېژي. زما په تندي د غم کرښې مۀ راکاږه، ځکه چې دا روانه هوا به ئې ولولي او ښپيانې ته به زما د هډوکو د دوړې دوړلو نه انکار وکړي. زما لورې! ما په ژوند هم ستاسره مينه کړې ده او په مرګ به ئې هم کوم. زما روح به تل ستا څارنه کوي او تا به په حفاظت کښې ساتي."

بيا فارس افندي ما ته په نيم کښو سترګو وکاتۀ او اوئې وئيل چې "زما زويه! د سلمىٰ داسې سکه ورور جوړ شه لکه چې ستا پلار زما ورور وۀ. د ضرورت په وخت کښې د هغې مرسته ملګرتيا کوه او هغه مۀ پرېږده چې وير وکړي ځکه چې په مړي وير کول پخپله يو ناخوښه کار دے. د هغې د غم غلطولو دپاره هغې ته بيا بيا زړۀ خوشحالوونکې قيصې کوه او د ژوند سندرې ورته وايه. ما خپل پلار ته ورياد وه. د هغۀ نه غوښتنه کوه چې زمونږ د ځوانۍ قيصې درته کوي او دا ورته وايه چې ما د ژوند په اخيري وخت کښې د هغۀ د زوي په شکل کښې د هغۀ سره مينه کوله".

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاموشي خوره شوه او د دغه مشر سړي په مخ ما ته د مرګ زېړوالے په نظر راغے. بیا هغهٔ سترګې راپورته کړې مونږ ته ئې وکاتهٔ او په ګونګوسي کښې ئې اووئیل چې "ډاکټر مهٔ راغواړئ ځکه چې کېدے شي چې هغه د خپلو دارو په ذریعه په دې بندي خانه کښې زما سزا نوره هم زیاته کړي. د غلامۍ ورځې لاړې او زما روح د اسمانونو د ازادۍ په لټه کښې دے. پادري هم زما کټ له مهٔ راولئ ځکه چې که زهٔ ګناهګار یم نو د هغهٔ دم درهه ما بچ کولے نهٔ شي. لکه څنګه چې د ستورو ماهر د ستورو لار نهٔ شي بدلولے دغسې د بنده خوښه هم د خدائے رضا په بله نهٔ شي اړولے خو زما د مرګ نه وروسته ډاکټر او پادري پرېږدئ چې خپله خپله خوښه وکړي ځکه چې دغه وخت هغوي د منزل په لور زما د ببړۍ په تګ کښې هېڅ خلل نهٔ شي اچولے"!

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

په نیمه شپه کښې فارس افندي خپلې سترګې په اخیري ځل وغړولې او سلمٰی چې د هغهٔ د کټ سرته ولاړه وه، ته ئې په یو جوړ وکاتهٔ. هغهٔ د څهٔ وئیلو هڅهٔ کوله خو نهٔ ئې شو وئیلے ځکه چې مرګ ئې اواز کښېنولے وهٔ خو اخیر ډېر په ګرانه ئې اووئیل چې" شپه تېره شوه.... اے سلمٰی.... اے.... اے سلمٰی بیا هغهٔ خپل سر بل طرف ته واړاوهٔ، مخ ئې سپین شهٔ او څنګه چې ئې اخیري سلګۍ کړه نو ما ئې مخ خندنے ولیدهٔ.

سلمٰی د خپل پلار لاس ونیوهٔ، هغه یخ وهٔ، بیا هغې خپل سر راپورته کړهٔ او د هغهٔ مخ ته ئې وکاتهٔ. د هغهٔ مخ د مرګ په نقاب پټ وهٔ. سلمٰی داسې سکتې ونیوه چې نهٔ ئې اوښکې توئې کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ئې اسويلي له خولې لاړل او نه د خپل ځانې نه وخوزېده. د لږ ساعت دپاره هغې هغه ته لکه د بت په ولاړو سترګو کاته. بيا دومره راتيته شوه چې تندے ئې زمکې ته ورسېدۀ او اوئې وئيل " اے خدايه! په مونږ رحم وکړه او زمونږ مات ځانګونه پېوند کړه".

فارس افندي مړ شۀ، د هغۀ روح د ابديت ځولۍ له ورسېدۀ او وجود ئې زمکې ته ستون شۀ. منصور د هغۀ په دولت غړے واچاوۀ او سلمیٰ د ټول عمر دپاره بندي شوه- داسې ژوند چې د درد اوغم نه ډک وۀ.

زۀ په حسرتونو او خيال پلونو کښې ورک وم. ورځې او شپې راباندې داسې راغوټه کېدې لکه عقاب چې خپل ښکار بسمې بسمې کوي. ډېر ځله ما هڅه وکړه چې خپل ځان د پخوانو نسلونو د کتابونو او اسماني صحيفو په مطالعه کښې بوخت وساتم او خپله بدبختي هېره کړم خو دا داسې وه لکه سړے چې اور په تېلو وژني ځکه چې د تېر وخت په کاروان کښې د ليدلو دپاره د الميې او د اورېدلو دپاره د وير او ژړا نه اخوا نور هېڅ هم نۀ وو. زما دپاره د مذهبي سندرونه زيات د Job کتاب ( د بائبل يو کتاب) زړۀ راکښونکے وۀ او د Jeremiah ( د بائبل يو کتاب) مرثيې مې د سليمان د سندرې نه زياتې خوښې وې. د مغربي ليکوالو د ټولو ډرامو نه مې هملټ (Hamlet) زيات زړۀ ته نزدې وۀ. هم دغسې نااميدي زمونږ نظر کمزورے کوي او غوږونه مو تپوي. مونږ ته کۀ څۀ په نظر راځي نو هغه د تباهۍ منظر وي او کۀ څۀ اورو نو هغه زمونږ دپارېدلو زړونو درزا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عیسیٰ او عشتار ترمینځ

د هغه باغونو او غونډیو چې د بېروت ښار د لبنان سره یو ځائې کوي، په مینځ کښې یو وړوکے کلیسا دے چې ډېر لرغونے دے او په کمر کښې کینډلے شوے دے. چاپېره ترې د زیتونو، بادامو او ولو ونې ولاړې دي. سره د دې چې دا کلیسا د اولسي سړک نه نیم میل لیرې دے خو زما د قیصې تر وخته ډېر لږ کسانو چې د تبرکاتو او لرغوني کنډرو شوق ئې لرلو، دې ته تلي وو. دا کلیسا د نورو ډېرو هغه په زړهٔ پورې ځایونو نه یو وهٔ کوم چې پټ دي او خلکو هېر کړي دي. دا ځائې ډډې ته وهٔ نو ځکه ئې د عبادت کوونکو دپاره د بندر او د یوه دوو مئینو دپاره د زیارت درجه لرله.

څنګه چې سړے کلیسا ته داخل شي نو لمر خاتهٔ اړخ ته په دېوال کینډلے شوے یو فونیقي تصویر په نظر راځي چې د ښائست او مینې د خدایني، عشتار، څرګندونه کوي. چاپېره ترې اووهٔ لوڅې پېغلې په بېل بېل انداز کښې ولاړې دي. د رومبۍ[1] سره چورباتي (تارچ) ده، د دویمې[2] سره ګټار، د درېمې[3] سره د خوشبویه تېلو د سوزولو لوښې، د څلورمې[4] سره د شرابو جګ، د پنځمې[5] سره د ګلابو غنچک، د شپږمې[6] سره د مړاني د پاڼو (Laurel) خادر او د اوومې[7] سره په لاس کښې غشے لینده دي او دا ټولې ډېر په احترام سره عشتار ته ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوهم دېوال بو بل تصوير اويزان دے چې د رومبي نه نوے ښکاري او په صليب پورې مېخ د عيسٰی معنٰی ورکوي. په څنګ کښې ئې غمژنه مور (Mary Magdalen) او دوه نورې ښځې د ژړا په حالت کښې ولاړې دي. د دې تصوير نه داسې ښکاري چې دا په پنځلسمه يا شپاړسمه عيسوي پېړۍ کښې کېندلے شوے دے.

په لوېديځ دېوال باندې دوه غوندې (ګرډې) لاړې دي چې د لمر وړانګې ترې کليسا ته داخلېږي او په تصويرونو لوېږي او هغوي ته داسې رنګ ورکوي لکه چې په طلائي اوبيز رنګ، رنګ شوي وي. د کليسا په مېنځ کښې يو مرمري څلور ګوټے څائې دے چې په اړخونو ئې زاړهٔ نقشونه جوړ شوي دي. په دې نقشونو کښې څينې د کاڼي شوې وينې د توتو لاندې په ګرانه ښکاري. د دې نه داسې معلومېږي چې لرغوني خلکو به په دې کمر باندې قرباني ورکولې او د پاسه به ئې ورباندې عطر، تېل او شراب اړول.

په دې کليسا کښې د تولو نه زيات د توجه وړ څيز ژوره خاموشي ده چې ژوندي خلکو ته د دېوې (ديوي) حقيقت په ګوته کوي او د تېرو نسلونو او د مذهب د ارتقائي تکو قيصه ورته اوروي. داسې نظاره شاعر د هغه دنيا نه ډېر ليرې وړي، په کومه کښې چې هغه اوسېږي او فلسفي په دې قائل کوي چې مذهب د انسان په ختمه کښې اغړلے شوے دے. هغهٔ (انسان) د داسې څهٔ ضرورت محسوس کاوهٔ چې ليدهٔ ئې نهٔ او په سمبولونو (علامتونو) ئې ورله مينه ماتوله. د دغه "سمبولونو" معنو د هغهٔ پټ رازونه څرګندول او د مرګ او ژوند په حقله ئې د هغهٔ په ارمانونو رڼا اچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ښار کليسا ګڼې به په مياشت کښې يو ځل د سلمۍ سره زما ملاقات کېدهٔ او څو ګړۍ به مې ورسره تېرولې. دې ناآشنا تصويرونو ته به مو کتل، په غرغره شوي عيسیٰ به مو سوچ کاوهٔ او په هغه فونيقي ځوانو سړيو او ښځو به موفکر کاوهٔ څوک چې په ښائست ژوندي وو. د ښائست سره ئې مينه وه او د عشتار په شکل کښې ئې د ښائست عبادت کاوهٔ. د هغې د بت په وړاندې ئې عود لوګول او په زيارت ئې ورله عطر پاشل. دا هغه خلک دي چې هېڅ ئې هم داسې نهٔ دي پاتې چې سړے ئې ذکر وکړي، ما سېوا د نوم نه چې د وخت کاروان ئې د ابديت مخې ته بيا بيا تکراروي.

د سلمۍ سره د ملاقاتونو د وختونو ليکل زما دپاره ګران کار دے. دغه جنتي مهالونه د درد، خوشحالۍ، حسرت،اميد او بدمرغۍ نه ډک وو.

مونږ په پټه په دغه زوړ کليسا کښې ليدل کتل کول. زاړهٔ وختونه به مو رايادول، په روان وخت به مو خبره کوله، د راتلونکي وخت د انديښنې اظهار به مو کاوهٔ او په قلاره قلاره به مو د زړهٔ پټ رازونه راويستل او يو بل ته به مو د خپلو خپلو دردونو او بدمرغيو ګيلې مانې کولې او په خيالي اميدونو او خواشينو خوبونو مو ځان لهٔ زړونه ښهٔ کول. ساعت ګړۍ وروسته به غلي شو، خپلې خپلې اوښکې به مو وچې کړې. بې له مينې به مو نور هر څهٔ شاته وغورځول او مسکي مسکي به شو. بيا به سلمۍ زما تندے ښکل کړهٔ او زما زړهٔ به ئې له وجد نه ډک کړهٔ. هغې چې به کله خپله سپينه دنګه غاړه راښکته کړه نو ما به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدل کېښي ښکل کړه او د هغې اننګي به داسې سرۀ شو لکه د سباؤن رومبی پلوشه چې د غونډۍ په تندي پرېوځي. مونږ به په خاموشۍ سره لیرې افق ته کاتۀ چېرته چې به وربخې د پرېوتونکي لمر په نارنجي پلوشه رنګینې وې.

زمونږ خبرې به صرف تر مینې پورې محدودې نۀ وې، وخت په وخت به مو په روانو مسئلو خپل خیالونه څرګندول. سلمیٰ به په ټولنه کېښې د ښځو مقام، د هغوي په کردار د تېرو نسلونو اغیزې، د ښځې او خاوند ترمېنځ تعلق او هغه روحاني رنځونه او بدچلنۍ چې د نکاح ژوند په خطره کېښې اچوي،د خپل بحث په بر کېښې نیول. ما ته د هغې دا وېنا یاده ده چې "شاعران او لیکوال هڅه کوي چې د ښځې په حقیقت ځان پوه کړي خو تر نن ورځې پورې هغوي د هغې د زړۀ پټ رازونه اونۀ پېژندل ځکه چې هغوي هغې ته د جنسي پردې د شا نه ګوري او د هغې د بهرني وجود نه اخوا نور هېڅ هم په نظر نۀ ورځي. هغوي د نفرت د غټوونکي شیشې په توسط د هغې ننداره کوي او د کمزورۍ او اطاعت نه پرته نور هېڅ هم اونۀ مومي".

په یوه بله موقعه هغې په دېوال د کیندلي تصویر په لور اشاره وکړه او اوئې وئیل چې" د دې کمر په زړۀ کېښې دوه سمبولونه وجود لري چې د ښځې د خواهشونو نچوړ او د هغې د روح هغه پټ رازونه په ګوته کوي، کوم چې د مینې او زړۀ چاودون، د محبت او قربانۍ، په تخت ناستې عشتار او د صلیب سره ولاړې ماري (Mary) ترمېنځ ځي راځي. سړے سر لوړي او نوم ناموس پلورې او ښځه ئې قیمت ادا کوي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدائے او د مرغیو د هغه سېل نه اخوا کوم چې به زمونږ په سرونو الوتۀ، نور هېڅوا ته هم زمونږ د ملاقاتونو پته نۀ وه. سلمیٰ به "پاشا پارک" نومې ځائې ته په خپله بګۍ کښې او بیا د دغه ځائې نه کلیسا ته پیاده راتله، چېرته چې به زۀ د هغې په انتظار کښې ناقلاره ناست وم.

مونږ نۀ خو د تماشه کوونکو د سترګو نه وېرېدو او نۀ خپلو ضمیرونو ته ملامته وو. هغه روح چې په اور پاک شي او په اوښکو اووینځلے شي، د هغه هر څۀ نه لوړ شي څۀ ته چې خلک شرم او بې عزتي وائي. دا روح بیا د غلامۍ د ضابطو او د هغه زړو رواجونو نه ازاد وي چې د انساني زړۀ د محبتونو په ضد ولاړ دي. همدغه روح دے چې د خدائے د تخت په وړاندې سرخ رویه ودرېدلے شي.

د ابدي او لوړې پائې د قوانینو په معنیٰ د پوهېدو تر وخته انساني ټولنې او یا (۷۰) پېړۍ په ځان ناوړه قوانین منلي دي. د انسان سترګې د تتې رڼا اموخته شوي دي او د لمر رڼا ته نۀ شي کتلے. روحاني رنځ د یو نسل نه بل نسل ته پاتې کېږي او بیا د خلکو د ژوند داسې برخه وګرځي چې هغوي ئې د رنځ پر ځائې آدم ته د خدائے له اړخه ورکړې شوې فطري ډالۍ ګڼي. کۀ چېرې دغه خلک د دې رنځ د جراثیمو نه پاک سړے ووموي نو هغۀ ته په ښۀ سترګه نۀ ګوري.

هغه څوک چې په سلمیٰ په دې حواله بد وائي چې هغې د خاوند کور پرېښودۀ او کلیسا ته زما ملاقات له راتله په اصل کښې هغه رنځوران او تنګ نظري دي چې روغ او قوي خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته باغیان ښکاري. د هغوي مثال د هغه حشراتو دے چې د چا لاروي د پښنو لاندې د چقېدو د وېرې په تیارهٔ کښې په زمکه ننوځي.

یو مغلوب شوے قېدي کۀ د زندان نه تښتېدلے شي او نۀ تښتي نو دا بزدلي ده. سلمیٰ چې یوه بې قصوره بند پوانه وه، د دې توان نۀ درلودهٔ چې ځان د غلامۍ د زنځیرونو نه ازاد کړي آیا هغې ته ګوته نیول پر ځائې دي ځکه چې د زندان د کړکۍ نه ئې د شنو پټینو او پراخه فضا تماشه کوله؟ آیا خلک به هغې ته بې وفا وائي ځکه چې د هغۀ د کور نه به راتلله او زما سره به د عیسیٰ او عشتار ترمېنځ کښېناسته؟ خلک پرېږده چې څۀ ئې خوښه وي هغه دې وائي. سلمیٰ د هغه جبو نه راتېره شوې وه کومې چې نور روحونه په ښکته راکاږي او یوې داسې دنیا ته رارسېدلې وه چېرته چې د شرمښانو انګولا او د مارانو پرشار نۀ شي رسېدے. خلک چې زما په حقله څۀ غواړي هغه وئیلے شي ځکه چې هغه روح چې د مرګ ننداره ئې کړې وي د غلو د مخونو نه نۀ وېرېږي. هغه مجاهد چې په سر ئې توري پړقېدلې وي او د پښنو لاندې ئې د وینو ویالې بهېدلې وي، د هغه کانو پرواه نۀ کوي چې په کوڅو کښې وربانديې د ماشومانو لخوا راشغېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرباني

یوه ورځ د جون د میاشتې په اخیري برخه کښې چې خلک د اوړي د ګرمۍ نه د ځان ژغورلو دپاره د ښار نه غر ته تلي وو، زهٔ د نور کله پشان د سلمیٰ سره د ملاقات په غرض کلیسا ته لاړم. ما د ځان سره د اندلوسي (Andalusian) نظمونو یو کتاب هم وړے وهٔ. کلیسا ته چې ورسېدم نو د سلمیٰ په انتظار کښېناستم. وخت په وخت به مې د خپل کتاب په پاڼو نظر اچاوهٔ او هغه شعرونه به مې لوستل کوم چې زما زړهٔ د ولولو نه ډکاوهٔ او زما سر له ئې د هغه شاهانو، شاعرانو او راڅکانو یاد راوړهٔ چا چې خپل شان و شوکت ته په مخه ښه وئیلې وو. د اوښکو ډکې سترګې او سوري زړونه پاتې شوي وو او خپل محلونه، اداري او امیدونه ئې د لاسه ورکړي وو. ساعت ګړۍ وروسته سلمیٰ زما په نظر شوه چې د باغ په مېنځ کښې د کلیسا په لوري راروانه وه. هغه په خپله چترۍ داسې راټیټه شوې وه لکه د دنیا ټول غمونه چې ئې په خپلو اوږو راخستي وو. څنګه چې هغه کلیسا ته راغله او زما خواته کښېناسته نو ما ته د هغې په سترګو کښې د یو خاص بدلون نخښې په نظر راغلې او زهٔ په هغې د ځان پوهولو دپاره ناقلاره شوم.

زما په ذهن کښې چې څهٔ ګرځېدل، هغه سلمیٰ محسوس کړل، لاس ئې زما په سر کېښودهٔ او اوئې وئیل چې" زما مئینه! نزدې راشه او ما له د خپلې تندې ماتولو موقعه راکړه ځکه چې بېلتون مو په سر ودرېدلے دے".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ترې پوښتنه وکړه چې " ستا خاوند ته زمونږ د دې ځائې د ملاقات پته لګېدلې ده؟" هغې ځواب راکړۀ چې " زما خاوند نۀ خو په ما نظر لرې او نۀ د دې نه خبر دے چې زما ورځې شپې څنګه تېرېږې ځکه چې هغه د هغه غریبانو جینکو سره بوخت دے چې خپلې غریبۍ بدنامه کورونو ته شړلې دې. دا هغه بدبختې جینکۍ دې چې په خپلو وینو او اوښکو اخښلې ډوډۍ د خپلو وجودونو په بیه اخلي".

ما ترې تپوس وکړۀ چې هغه به ولې تا کلیسا ته د راتلو او د خدائې پهوراندې زما سره په ډېر درنښت د کښېناستو نه منع کوي؟ چېرته داسې خو نۀ ده چې ته پخپله ښلېدۀ غواړې".

د هغې په سترګو کښې اوښکې لړې راغلې او اوئې وئیل چې " نۀ په ما ګرانه! زۀ پخپله ښلېدۀ نۀ غواړم ځکه چې تۀ زما د ځان برخه ئې. زما سترګې چېرې هم تا ته په کتو نۀ سترې کېږې ځکه چې تۀ زما د سترګو نور ئې خو کۀ چېرې د تقدیر فیصله دا وي چې زۀ دې د ژوند په هغه شاړه لړه لړه شم کومه چې د قدغنونو نه ډکه ده نو ولې دې تاهم د ځان په رنګ کړم". بیا هغې اووئیل چې " زۀ تا ته هر څۀ نشم وئیلے ځکه چې درد زما ژبه ګونګه کړې ده او زۀ خبرې نشم کولے. شونډې مې خپګان ګنډلې دې او د خوږېدو تاب نۀ لري. بس دومره پوره وګڼه چې زۀ وېرېږم چې چېرته تۀ هم په هغه لټ کښې اونۀ ښتلې چې زۀ پکښې ښتې یم".

بیا ما اووئیل چې " سلمٰی ستا مطلب څۀ دے او تۀ د چا نه وېرېږې؟ هغې مخ په لاسونو پټ کړۀ او اوئې وئیل چې " پادري ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پته لګېدلې ده چې زه په میاشت کښې یو ځل د هغه قبر ته اوځم په کوم کښې چې هغهٔ زه ښخه کړې یم".

ما ترې تپوس وکړهٔ چې "پادري ته زمونږ د ملاقات پته لګېدلې ده؟" هغې ځواب راکړهٔ چې "کهٔ چېرې هغهٔ ته پته لګېدلې وے نو زهٔ به اوس دلته ستا په خوا کښې ناسته نهٔ وے خو هغهٔ ته شک شوے دے او خپل ټول نوکران او محافظان ئې چامتو کړي دي چې پر ما کلک نظر وساتي. زهٔ داسې محسوسوم چې زهٔ چې په کوم کور کښې اوسېږم او په کومه لاره ځم هغه ټولې سترګې ستر ګې دي او ماته ګوري، ټولې ګوتې ګوتې دي او زما په لور اوچتېږي او ټولې غوږونه غوږونه دي او زما د خیالونو ګونګوسي اوري".

PUKHTO.NET

هغه لږ ساعت غلې وه بیا ئې په مخ اوښکې راتوئې شوې او زیاته ئې کړه چې " زهٔ د پادري نه نهٔ وېرېږم ځکه چې لوندوالے دوب شوي نهٔ شي وېرولے خو زما سره ستا غم دے چې اوبه اننبلې او د هغهٔ ښکار به شې. تهٔ لاځوان ئې او د لمر د رڼا غوندې ازادئې. زهٔ د هغه تقدیر نه نهٔ وېرېږم کوم چې خپل ټول غشي زما په سینه کښې راښخ کړي دي خو زما سره داغم دے چې دغه مار چېرته ستا پښې اونهٔ چیچي او د غرهٔ د هغه ځوکې د سرکولو نه دې اونهٔ باسي چېرته چې راتلونکے وخت د خپلو خوشحالیو او پیاوړتیا سره ستا انتظار کوي".

ما اووئیل چې "ځوک چې د رڼا مارانو چیچلے نهٔ وي او د تیارې شرمښانو دارلے نهٔ وي هغه به تل په ورځو او شپو تېر خوري. خو سلمیٰ! تهٔ دا واوره او په غور ئې واوره چې ستا ځهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال دے چې د خلکو د ناوړه او سپک سلوک نه د ځان ژغورلو دپاره جدائي یوازینۍ لار ده؟ ستا څهٔ خیال دے چې د مینې او ازادۍ لاره بنده ده او د مرګ د غلامانو د مرضۍ په وړاندې د مرۍ غزولو نه اخوا نور هېڅ هم نهٔ دي پاتې؟

هغې ځواب راکړهٔ چې" د جدایۍ او یو بل ته د " مخه ښه" وئیلو نه سېوا نور هېڅ هم نهٔ دي پاتې"

پر ما باغیانه جذبه راغله د هغې لاس مې ونیوهٔ او په غصه کښې مې اووئیل چې" مونږ د هر اوږد وخت دپاره د خلکو خوښه وکړه. د روميي ملاقات نه واخله تر دې وخته پورې مونږ د ړندو په پل تګ وکړهٔ او د هغوي د بتانو په وړاندې مو د هغوي سره سجدې ولګولې. د هغه وخت نه تر دې وخته پورې مونږ د پادري د لاس هغه غونډوسکې پاتې شو چې په خپله خوښه مو یو خوا بلخوا ولې راولي. آیا تر مرګه پورې به مونږ د هغهٔ مرضي کوو؟ آیا خدائے پاک مونږ له ساه د دې دپاره راکړې ده چې مونږ ئې د مرګ د پښنو لاندې کړو؟ آیا هغهٔ مونږ ته ازادي د دې دپاره رابخښلې ده چې مونږ ترې د غلامۍ دپاره سیورے جوړ کړو؟ هر هغه څوک چې د خپلې جذبې اور په خپلو لاسونو وژني د خدائے په نزد کافر دے ځکه چې زمونږ په جذبو کښې بلېدونکے اور خدائے پخپله لګولے وي. هر هغه څوک چې د استبداد په ضد بغاوت نهٔ کوي، پخپله د خپل ځان سره بې انصافي کوي. سلمیٰ! زهٔ په تا مئین یم او تهٔ هم زما سره مینه لرې. او مینه یوه بې بها خزانه ده چې خدائے پاک ئې حساسو او سترو خلکو ته د تحفې په توګه ورکوي. آیا مونږ دا خزانه د لاسه وغورځوو او خنزیران پرېږدو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهٔ ئې شندي او د ښېنو لاندې ئې کړي؟ دا دنیا د ښائست او زړهٔ راکښونو نه ډکه ده نو بیا ولې مونږ په دې تنګ سورنګ کښې اوسېږو کوم چې پادري او د هغهٔ مرستیالو زمونږ دپاره کنستلے دے؟ ژوند د خوشحالۍ او ازادۍ نه ډک دے نو بیا ولې دې مونږ د خپلو اوږو نه دا درونـد جغ اونهٔ غورځوو. د خپلو ښپنو ځولنې دې ماتې نهٔ کړو او د امن په لورې دې په ازاد مټ لاړ نهٔ شو. راځه چې د دې وړوکي کلیسا نه د خدائے د لوئې کلیسا په لورې روان شو. راځه چې دا د جهالت او غلامۍ ملک پرېږدو او یو داسې لیرې ملک ته لاړ شو چې د دې غلو لاس ورته نهٔ وررسي. راځه چې د تیارې په پرده کښې ساحل ته ځان اورسوو. په بېړۍ کښې کښېنو او په سمندر پورې ځو. هلته به مونږ له یو داسې ژوند په لاس راشي چې د خوشحالیو او یو بل پېژندنې نه به ډک وي. سر په مهٔ کوه سلمٰی! ځکه چې دا لمحې زمونږ دپاره د بادشاهانو د تاجونو نه زیاتې قیمتي دي او د فرشتو د تختونو نه زیاتې لوړې دي. راځه چې د لمر د رڼا دا تار واخلو، دا به مونږ د دې شاړې صحرا نه داسې پټیو ته بوځي چېرته چې ګلونه او خوشبوداره بوټي زرغونېږي"

هغې خپل سر وخوزاوهٔ او د کلیسا په چت باندې ئې ځهٔ داسې ځیز ته په غور وکتل چې په نظر نهٔ راتهٔ. په شونډو ئې یوه غمژنه مسکا خوره شوه او بیا ئې اووئیل چې " زما جانانه! نه- قدرت زما په لاس کښې یوه داسې پیاله ایښودې ده چې د سرکې او د تریخې د ترخو اوبو نه ډکه ده. زهٔ په خپل ځان د دې د ځنبلو جبر په دې غرض کوم چې د دې د بېخ د پوره تریخوالي نه خبر شم او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ته وښنم تر څو چې يو څو ځاځکي پاتې شي، کوم چې به زه په قلاره قلاره له ستوني تېروم. زه د تسکين او د مينې د نوې ژوند جوګه نه يم. زه د ژوند د خوږ لت او خوشحاليو سينه نه لرم ځکه چې مرغۍ په ماتو ځانګونو په فضا کښې الوت نه شي کولی. هغه سترګې چې د ډېوې د تتې رڼا اموخته وي د لمر رڼا ته د ښغو کتو تاب نه لري. ما ته د خوشحاليو ذکر مه کوه ځکه چې د دې قسمه يادونه ما دردوي. ماته تسکين مه ياد وه ځکه چې ما بوږنوي. د دې پر ځائې ماته ګوره زه به تا ته هغه مقدسه رڼا وښايم کومه چې قدرت زما د زړه په ايرو کښې پېدا کړې ده. تا ته پته ده چې زه ستا سره داسې مينه کوم لکه يوه مور چې د خپل يکي يو بچي سره کوي او مينه ماته دا سبق راکوي چې زه ستا ساتنه داسې وکړم چې زما د خپل ذات نه هم محفوظ پاتې شې. هم دا مينه چې په اور پاکه شوې ده زما مخې ته ودرېږي او ما ستا په پل ليرې وطن ته د تلو نه منع کوي. مينه ما په دې غرض وژني چې ته ازاد او سپېځلے ژوند وکړے شې. محدوده مينه دا تقاضا کوي چې محبوب په خپله ولقه کښې راولي خو لامحدوده مينه صرف د خپل وجود غوښتنه کوي. هغه مينه چې د ساده والي او بوغرېتوب په مېنځ کښې راځي د محبوب په خپلولو کښې قرار مومي او په غاړه وتلو وده کوي خو کومه مينه چې د ستورو د مسکن په څولۍ کښې رازېږېدلې وي او د شپې د رازونو سره ښکېته راکوزه شوې وي. هغه بې له ابديت او لافانيت نه نور په هېڅ کښې هم قرار نه مومي. د الوهيت نه اخوا (پرته) نور د هېڅ څيز په وړاندې په ټيټ سر نه ودرېږي.

کله چې ماته پته ولګېده چې پادري ما د خپل ورارهٔ د کور نه وتلو ته نهٔ پرېږدي او د خپلې یکې یوې خوشحالۍ نه مې هم منع کوي نو زهٔ د خپلې کوټې کړکۍ ته ودرېدم او د سمندر طرفته مې نظر واچاوهٔ او د دې نه اخوا په پراخه هېوادونو او په هغوي کښې په موجوده ازادۍ او ذاتي اختيار مې فکر وکړهٔ. ما داسې وګڼله لکه چې زهٔ ستا سره نزدې اوسېږم، ستا د روح سیورے رانه چاپېره دے او ستا د محبت په سمندر کښې ډوبه یم خو دې تولو خیالونو کوم چې د یوې ښځې زړهٔ روښانه کوي او د زړو رواجونو په ضد ئې بغاوت ته لمسوي او د ازادۍ او عدل د سیوري لاندې ژوند ور په ګوته کوي، زما دا یقین جوړ کړهٔ چې زهٔ کمزورې یم او زموږ مینه دومره محدوده او ناتوانه ده چې د لمر مخې ته د ودرېدو جوګه نهٔ ده. ما داسې چغې کړې لکه چې د چا بادشاه نه څوک باچائي او خزانې په زور ونیسي خو بیا سمدستي ما په خپلو اوښکو کښې ستا تصویر ولیدهٔ چې ماته ئې نبغ نبغ کاتهٔ او ماته ستا هغه خبره راپه یاد شوه چې «راځه سلمیٰ چې د توپان په وړاندې کوټلي برجونه جوړ شو. راځه چې د دښمن په وړاندې د زړهٔ ورو سپایانو غوندې ودرېږو، د هغهٔ د وسلو مقابله وکړو، کهٔ چېرې مړهٔ شو نو شهیدان به شو او کهٔ ژوندي پاتې شو نو ژوند به مو د اتلانو وي. د خندانو او ستونځو زغم د غلي کښېناستو نه زیات د درنښت کار دے». په ما ګرانه! دا ستا د هغه وخت تکي دي کله چې د مرګ وزرې زما د پلار په کټ خمبېدلې، کله چې پرون زما په سر د مایوسۍ وزرې وخمبېدې نو ماته ستا دا تکي رایاد شو، خان مې کلک کړهٔ او داسې مې محسوسه کړه لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د قبدخانې په تيارو کښې يو قسم د قدر وړ ازادي زمونږ ستونځې کموي او په دردونو مو اوبۀ اړوي. ماته پته ولګېده چې زمونږ مينه دومره ژوره ده لکه سمندر، دومره اوچته ده لکه ستورې او دومره پراخه ده لکه دا پاس اسمان. زۀ محسوسوم چې زما په کمزورې روح کښې يو نوے توان راغلے دے او دا توان په اصل کښې هغه اهليت دے چې سړے د يو غوريز څيز د ګټلو دپاره د يو نسبتاً کم غوريز څيز د قربانۍ جوګه کوي او دا قرباني ماله خوشحالي راکوي ځکه چې د دې په شا زما مدعا دا ده چې تۀ د خلکو په نظر کښې دروند او سپېځلے پاتې شې او د هغوي د درغلۍ او زړۀ ازارۍ نه په امان شې.

په تېر وخت کښې چې به کله زۀ دې خانې ته راتلم نو داسې به مې محسوسوله لکه چې د رانۀ زنځيرونه راته پراتۀ وي خو نن زۀ د داسې يو نوي عزم سره راغلمه چې به زولنو پورې خاندي او زما منزل رالنډوي. زۀ به دې کليسا ته د يوې ترهېدلې بلا (مشبح) په رنګ راتلمه خو نن د هغه زړۀ ورې ښځې په رنګ راغلمه کومه چې د قربانۍ په قدر و قيمت پوهېږي او د بدې ورځې په ارزښت هم خبر وي. زۀ د يوې داسې ښځې په رنګ راغلمه چې خپل مئين د جاهلو خلکو او د خپل روح د لوږې نه په امان ساتل غواړي. زۀ به ستا خواته د يو رېېدونکي سيورې په رنګ کښېناستم خو نن زۀ دې له راغلې يمه چې د عيسیٰ ؑ او عشتار په وړاندې تاته خپل باطن ښکاره کړم.

"زۀ هغه ونه يمه چې په سيورې لويه شوې يمه خو نن زۀ خپل ښاخونه داسې غزومه چې د لږ ساعت دپاره د ورځې په رڼا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ شي راشي. زما مئینه! زهٔ دې له راغلې یمه چې ستا سره خدائے په اماني وکړمه او زهٔ دا هیله لرم چې زمونږ "مخه ښه" به داسې دروند او د وقار نه ډک وي لکه څنګه چې زمونږ مینه ده. راځه چې خپل "مخه ښه" د اور په رنګ کړو کوم چې سرهٔ زر راکړوي او لاتې ځلانده کوي".

سلمٰی ما ته د څهٔ وئیلو یا احتجاج کولو موقعه نهٔ راکوله هغې ماته په خیر خیر کاتهٔ، سترګې ئې پرقېدلې، د مخ وقار ئې په خپل ځائې وهٔ او د یوې داسې فربښتې غوندې ښکارېدهٔ چې د درناوي او خاموشۍ وړ وي. بیا هغې د معمول خلاف ځان پر ما راوغورځاوهٔ او خپل پاسته لاسونه ئې زما نه چاپېره کړهٔ او زما په شونډو ئې یوه توده او ژوره مچه (بوسه) ثبت کړه.

څنګه چې لمر کوز شهٔ او د دې باغونو او بڼونو نه ئې خپلې وړانګې راټولې کړې نو سلمٰی د کلیسا مېنځ ته لاړه او د هغې په دېوالونو او ګوټونو ئې داسې اوږد نظر واچاوهٔ لکه چې د خپلو سترګو رڼا ئې دغه تصویرونو او سمبولونو ته وردا خلول غوښتل. بیا هغه وړاندې ورغله او د عیسٰی (ع) د تصویر په مخکښې په احترام راښکته شوه. پښې ئې ورله ښکل کړې او په ګونګوسي ئې اووئیل چې "اے عیسٰی (ع) ما ستا صلیب غوره کړهٔ او د عشتار د مزو او خوشحالو دنیا مې پرېښوده. ما د ازغو څادر واغوستهٔ او د برې د ونې د پاڼو (Laurel) څادر مې وغورځاوهٔ او د عطرو او خوشبویو پر ځائې مې ځان په وینو او اوښکو اووینځهٔ. ما د هغه پیالې نه د تریخې اوبهٔ او سرکه وڅښله کومه چې د شرابو او ژوند د اوبو دپاره جوړه شوې وه. زما قدرمنه! ما په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېروکارو کښې قبوله کړه او د هغوي سره مې کليلي ته بوځه چا چې ته غوره کړے ئې او په خپله بده ورځ قناعت لري او په خپلو حسرتونو خوشحاله دي".

بيا هغه راپورته شوه، ماته ئې وکاته او اونې وئيل چې "اوس به زه په خوشحالۍ خپلې تيارۀ ځمستې ته لاړه شم ځکه چې خوفناک روحونه اوسېږي. په ماګرانه! ته په ما زړۀ مۀ سېزه او زما په حال افسوس مۀ کوه ځکه چې کوم روح چې د خدائے سيورے يو وارې اووينې هغه بيا د شيطانانو د روحونو نه نۀ وېرېږي او کومه سترګه چې يو وار د خدائے په لور وغړېږي هغه بيا د دنيا دردونه نۀ شي پټولے".

د دې تکو د وئيلو سره سلمٰی د عبادت د ځائې نه لاړه او زۀ هلته پاتې شوم. د فکرونو په سمندر کښې ډوب وم او د الهام په هغه دنيا کښې ورک وم، ځکه چې خدائے په تخت کښېني او فرښتې د انسانانو عملونه ليکي او روحونه د ژوند د الميې قيصه اوروي او جنتي مرغۍ د مينې، حسرت او لافانيت ثناء خواني کوي.

زۀ چې د دې خوبه راويښېدم نو د شپې تيارۀ خوره شوې وه او خپل ځان مې د باغونو په مېنځ کښې په داسې حالت کښې وارخطا وليدۀ چې د سلمٰی د هر يو تکي بازګشت مې په غوږونو کښې بيا بيا ګرځېدۀ. د هغې خاموشي، د هغې حرکات، د هغې انداز، د هغې د مخ تاثر او د هغې د لاسونو لمس تر هغې راياد بدۀ تر څو چې زۀ د بېلتون او ايکړ (يوازې) ژوند په درد نۀ وم پوه شوے. زۀ مايوسه او زړۀ ماتے وم. ماته په ړومبي ځل دا انکشاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشۀ چې سرې، سره د دې چې ازاد پیدا کیږي ولې بیا هم د هغه سختو ضابطو غلامان وي، کومې چې د دوي نیکونو د دوي دپاره پرېښې وي او دا چې د ستورو مسکن کۀ مونږ ته هر څومره نۀ بدلېدونکې ښکاري، په اصل کښې د سبا خوښې ته د نن او د نن خوښې ته د پرون تسلیمې ده. د هغه شپې نه راپدېخوا ما دېرې پېرې په هغه روحاني قانون فکر (چورت) کړے دے د کوم په اساس چې سلمیٰ د ژوند پر ځائې مرګ غوره کړې دے او دېرې پېرې مې د قربانۍ د درنښت او د بغاوت د خوشحالیو ترمینځ په دې غرض موازنه کړې ده چې کوم یو پکښې زیات ښائسته او درونند دے خو د دې هر څۀ په نتیجه کښې ما یو صداقت موندے دے او دغه صداقت خلوص دے کوم چې زمونږ په ټولو عملونو کښې ښائست او درنښت پیدا کوي او دا خلوص په سلمیٰ کښې موجود وۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجات ورکوونکے

د سلمیٰ د وادهٔ پنځهٔ کاله وشو خو د هغې او د هغې د خاوند ترمېنځ د روحاني تړون د ټینګولو او د هغوي د بېزاره روحونو د رایو خائې کولو دپاره د هغې بچي وهٔ نهٔ شو.

شنډې ښځې ته په یو ځائې کښې هم په ښهٔ نظر نهٔ کتل کېږي ځکه چې د اکثرو سړیو دا خواهش وي چې د اولاد په توسط د ژوند سره خپل تړون ته ادامه ورکړي

PUKHTO.NET

معتبر سړے شنډې ښځې ته د دښمن په سترګه ګورې، د هغې نه کرکه کوي، د ځانه ئې بېلوي او د مرګ ارمان ئې کوي. منصور هم دا قسم سړے وهٔ. په مادي ډول داسې وهٔ لکه زمکه د کلکوالي په حواله داسې وهٔ لکه فولاد او د لوړې په لحاظ داسې وهٔ لکه قبر. سلمیٰ کهٔ هر څومره ښکلې او زړهٔ راښکونکې وه خو د هغهٔ د نوم او شهرت د ادامې دپاره د هغهٔ د اولاد ارمان د هغهٔ د نظره غورځولې وه.

کومه ونه چې په غار کښې لویه شي هغه مېوه نهٔ نیسي او سلمیٰ چا چې د ژوند په سیوري کښې عمر تېر کړے وهٔ د مور جوړېدو جوګه نهٔ شوه.

بلبل د دې وېرې په پنجره کښې خاله نهٔ جوړوي چې غلامې به ئې د چیچو (بچو) تقدیر جوړ شي.........

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمیٰ د خپل غمژن ژوند قهدي وه او دا د قدرت رضا وه چې هغه دې د دې ژوند د شریکولو دپاره بل قهدي پېدا نهٔ کړي. د مېدان ګلونه د لمر د محبت او د فطرت د مینې بچي وي او د سړیو بچي د مینې او نېکې جذبې ګلونه وي.

د مینې او همدردۍ جذبې په راس بېروت کښې واقع د سلمیٰ په ښکلي کور کښې چېرې هم غلبه وهٔ نهٔ مونده. سره د دې چې هغه به هره شپه د خدائے په حضور کښې په سجده پرېوته او د خپل تسکین او تسلۍ په خاطر به ئې د اولاد دپاره سوال کاوهٔ.

هغې تر هغې پورې دعاګانې غوښتې تر څو چې ئې د خدائے په دربار کښې ځائې نهٔ وهٔ نیولے.

بلاخره د غارونه د مېوې نیولو دپاره په جوبن کښې راغله. د پنجرې بلبل د خپلو وزرو د بڼو نه خاله جوړول شروع کړهٔ. سلمیٰ خپل په زنځیرونو تړلي لاسونه د قدرت د دې ستړې تحفې د حاصلولو دپاره د اسمان په لور اوچت کړل او بل هېڅ څیز هم هغې ته د مور جوړېدو د امید نه زیاته خوشحالي نهٔ شوه ورکولے.

هغې ډېر په بې قرارۍ انتظار کاوهٔ او ورځې ئې شمارلې او د دنیا د ټولو نه د خوږې نغمې (د خپل بچي اواز) د اورېدو ساعت ته ئې سترګې نیولې وې.

هغې د خپلو اوښکو نه د یو روښانه مستقبل د سباؤن سر اېښودے وهٔ.

د نسان میاشت وه چې سلمیٰ د درد او څړیکو په کټ پرېوته چېرته چې مرګ او ژوند د یو بل سره لاس او ګرېوان وو. ډائي او ډاکټر دنیا ته د نوي مېلمه د ورکولو تیارے کړے وهٔ. د شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوخته سلمیٰ پرله پسې چغې شروع کړې..... هغه چغې چې ژوند د ژوند نه بېلوي..... د نیشت په مسکن کښې د دوام چغې.. د لویو قوتونو د خاموشۍ په وړاندې د وړوکي قوت چغې... د هغه بې وسه سلمیٰ چغې چې د مرګ او ژوند د پښو لاندې ناامیده پرته وه.

سحر وختي د سلمیٰ ماشوم وزېږېدهٔ کله چې هغې سترګې وغړولې نو د کوټې ټول خلک ئې مسکي ولیدل. هغې په دوهم نظر ولیدل چې مرګ او ژوند لاهغسې د هغې د کټ په څنګ کښې د یو بل سره انښتي وو، هغې بیا سترګې پټې کړې او په چغه ئې په ړومبي ځل اووئیل چې " اے زما زویه! دائي ماشوم په ریښمین ورنې کښې وتاړهٔ او د خپلې مور په خوا کښې ئې واچاوهٔ خو ډاکټر یو مخې سلمیٰ ته کاتهٔ او په خپګان خپګان ئې سر خوزاوهٔ. د خوشحالۍ اوازونو کاونډیان راویښ کړل، هغوي په منډه منډه پلار ته د وارث په پېدا کېدو د مبارکۍ ورکولو دپاره د هغهٔ کور ته لاړل خو ډاکټر بیا هم د سلمیٰ او د هغې د ماشوم نه نظر نهٔ اړاوهٔ او سر ئې خوزاوهٔ نوکرانو په منصور د زهرې کولو دپاره منډې کړې خو ډاکټر د سلمیٰ او د هغې د ماشوم نه سترګې نهٔ ویستلې او په مخ ئې د ناامیدۍ اثار ګرځېدل.

څنګه چې لمر راوخاتهٔ نو سلمیٰ خپل ماشوم سینې ته واچاوهٔ. هغهٔ په ړومبي ځل سترګې وغړولې او خپلې مور ته ئې وکاتهٔ بیا ورېږدېدهٔ او سترګې ئې په اخیري ځل پټې کړې. بیا ډاکټر ماشوم د سلمیٰ د غېږې نه رااوچت کړهٔ او اوښکې ئې په مخ راروانې شوې. بیا ئې د ځان سره اووئیل چې " دا مبلمه روان دے ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم مړ شهٔ په داسې حال کښې چې "ګاونډيانو ئې د پلار سره د کور په لويه کوټه (Hall) کښې خوشحالي کولې او د هغهٔ د وارث د روغې ختې په شعار ئې جامونه پورته کول. سلمیٰ ډاکټر ته کتل او منت ئې کاوهٔ چې "زما ماشوم راکړه چې په سينه پورې ئې ونيسمه".

سره د دې چې ماشوم مړ وهٔ خو په لويه کوټه کښې د پيالو کړنګار مخ په زياتې وهٔ.... هغه په سباؤن کښې پېدا شوے وهٔ او د لمر خاتهٔ په وخت مړ شهٔ.....

د هغهٔ پېدائښت داسې وهٔ لکه يو خيال، مرګ ئې داسې وهٔ لکه يو اسويلے او فنا داسې شهٔ لکه يو سيورے.

هغه د مور د تسلى او تسکين دپاره ژوندے پاتې نهٔ شهٔ. د هغهٔ ژوند داسې د شپې په پاتې کښې شروع شهٔ او د ورځې په پېل کښې پائې ته ورسېدهٔ لکه چې د پرخې يو څاڅکے د تيارې سترګې راوڅڅوي او د رڼا لمس ئې وچ کړي.

يوه داسې ملغلره چې چپې (څپې) ئې د خان سره ساحل ته راوړې او په بېرته تلو کښې ئې د سمندر تل ته کوزه کړې. يو داسې زينګ چې د ژوند د غوټى نه ګل شي او د مرګ د پښو لاندې ريزمريز شي.

يو ګران مېلمه د چا راتګ چې د سلمیٰ زړهٔ روښانه کړهٔ او بېرته تلو ئې د هغې روح مړ کړهٔ.

دا د انسان ژوند دے، د قومونو ژوند دے، د لمرونو، سپوږميو او ستورو ژوند دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمیٰ ډاکټر ته سترګې ونیوې او چغه ئې کړه چې زما ماشوم ماله راکړه چې زۀ ئې په سینه پورې ونیسم".

ډاکټر غرېو ونیوۀ او په ټیټ سر ئې اوونیل چې "بي بي! ستا ماشوم مړ دے. تۀ حوصله وکړه".

چې د ډاکټر دا خبره ئې واورېده نو سلمیٰ یوه دردناکه چغه اووهله. بیا د لږ ساعت دپاره غلې شوه او په خوشحالۍ مسکۍ شوه. د هغې مخ داسې روڼ شۀ لکه چې د څۀ خاص راز انکشاف ورباندې شوے وي او په قلاره ئې اوونیل چې "زما بچیه! تۀ زما د بوتللو دپاره راغلے ئې، تۀ د دې دپاره راغلے ئې چې ماته د ساحل لاره سمه کړې. زما بچیه! زۀ تیاره یم. څه چې د دې تیارۀ څمستې نه بهر شو".

PUKHTO.NET

په یوه دقیقه کښې دننه د لمر وړانګې د کړکۍ د پردو نه راتېرې شوې او په هغه دوو خاموشه وجودونو پرېوتې کوم چې د ژورې خاموشۍ د باوقاره پېرې لاندې په کټ پراتۀ وو او مرګ ورباندې خپلې وزرې سیورے کړې وې. ډاکټر د اوښکو ډکې سترګې د کوټې نه اوونتۀ او څنګه چې غمې کوټې ته ورسېدۀ نو خوشحالۍ او اتڼونه په غم بدل شو. ولې منصور نۀ خو څۀ اوونیل او نۀ ئې د سترګو نه اوښکې لاړې. هغۀ په خپل ښي لاس کښې پیاله نیولې وه او لکه د بت غونډې بې حرکته ولاړ وۀ.

په دویمه ورځ سلمیٰ د خپل وادۀ په سپینه جوړه کښې کفن شوه او په تابوت کښې کېښودے شوه. د ماشوم کفن د هغۀ ورښے وۀ، د هغۀ تابوت د هغۀ د مور غېږه وه او لحد ئې د هغې خاموشه سینه وه. دواړه مړي په یو تابوت کښې راواخستے شو او زۀ په ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



احترام د هغه خلکو سره روان شوم چا چې سلمیٰ او د هغې ماشوم د خپل ارام ځائې ته وړل

ادیرې ته په رسېدو پادري غالب په خوږ اواز وېنا شروع کړه او نورو وړو پادریانو په دعاګانو ګوتې پورې کړې او په تتو مخونو ئې د جاهلیت او بې نیازۍ پرده راخوره شوه.

کله چې تابوت لحد ته کوز کړے شو نو د ولاړو خلکو نه یو په ګونګوسي اووئیل چې " دا زما په ژوند کښې اول ځل دے چې په یو تابوت کښې مې دوه مړي ولیدل". یو بل سړي اووئیل چې" داسې ښکاري لکه چې دا ماشوم د یو بې رحمه خاوند نه د خپلې مور د ازادولو دپاره راغلے وۀ".

دریم تن اووئیل چې" منصور ته وګوره، داسې اسمان ته ګوري لکه چې سترګې ئې د شیشې نه جوړې شوې وي. داسې هډو ښکاري نۀ لکه چې ښځه او ماشوم ئې دواړه په یوه ورځ مړۀ وي". یو څلورم سړي زیاته کړه چې " د هغۀ ترۀ –پادري- به ورله سباله د دې نه مالداره او تکړه ښځه وادۀ کړي"

پادري غالب او واړۀ پادریان لګیا وو تر هغه وخته ئې په خوږ اواز (ترنم) وېنا کوله تر څو چې قبر کنستونکو ډوره ډکه کړې نۀ وه. بیا خلک یوه دوي یوه دوي د پادري او د هغۀ د ورارۀ خواله ورتلل او غمرزاي ئې ورسره کوله خو زۀ یوې ډډې ته ولاړ وم او د تسلۍ دپاره داسې څوک نۀ راتلل لکه سلمیٰ او د هغې ماشوم چې زما هېڅ هم نۀ وو

"مخه ښه" ویونکي د ادیرې نه لاړل، قبر کنستونکے چارې (بېلچه) په لاس د دغه نوي قبر په خوا کښې ودرېدۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هغه خوا له ورغلم او پوښتنه مې ترې وکړه چې "تا ته پته شته چې فارس افندي په کوم ځائې کښې ښخ شوے وه؟" هغه لږ ساعت ماته وکاته او بيا ئې د سلمٰی قبر ته اشاره وکړه او وئې وئيل چې په دې ځائې کښې ما د هغه لور د هغه دپاسه کېښوده. د هغه د لور په سينه مې د هغې ماشوم ځائې کړه او د هغوي تولو دپاسه مې په دې چارې خاورې واړولې". بيا ما اوئيل چې" په دې ډوغل کښې تا زما زړه هم ښخ کړے دے".


ځنګه چې قبر کنستونکے د سپېدار د ونو شاته پناه شه نو زما نه نور زغم اونه شه، زه د سلمٰی په قبر ورپرېوتم او اومې ژړل.

پائې

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

خلیل جبران داسې لیکوال دے چې د ټولنیز ژوند مشاهده ئې بې حده ژوره ده. د انساني فطرت مطالعې ئې نظر دومره تېز کړے دے چې د زړهٔ دننه واردات ترې هم پټ نهٔ دي پاتې شوي. د ټولنیزې ارتقا په لوړو ژورو رسېدلے دے نو ځکه د ټولنیزو قدرونو او رشتو منظر او پس منظر د لوستونکي په وړاندې داسې په عام فهم انداز کښې ږدي چې سړے ارو مرو متاثره کوي.

ډاکټر خالق زیار



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**